


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په نوم زما ربه!

**د کتاب ځانګړنې:**

د کتاب نوم: علیمردان (ناول)

لیکوال: عنایت الله دیدار

ډیزاین: ثناءالله ځواب

خپرندوی: مازیګر کتاب پلورځی

د خپرونې لړ: ۹۶

شمېر: ۱۰۰۰ټوکه

د چاپ کال: ۱۴۰۴ه

ادرس: مازیګر کتاب پلورځی – مینه یار مارکېټ – کوټه سنګي – کابل

۰۷۸۲۴۲۴۵۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

زما دلسوخته او د توحید او توکل په مستۍ مستسري یار حضرت مولانا یاسین سالارزي ته ډالۍ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

تپه تیارهٔ وه. سیوري منډې وهلې... سړي پورته وکتل، برجوره کلا وه، پيشو پرې زغستل...
د دوه پليزې دروازې (غننګګ) شو، تور بنيادم ښکاره شو، ځمکې ته ځير و...

(c) ketabton.com: The Digital Library

چای جوشه یې کېښووده، شرنګ شو، پر پتنوس ایښې پیالې ورغښتې، ژر یې توله برابره کړه، لاس یې شاته وغځاوهٔ، دروازه یې ور کش کړه، ځمکې ته یې وکتل، چای جوشه یې ور پورته کړه، په احتیاط روان شو...
د پیالو رېږدېدا خته...
لویدیځ خوا ته لاړ، د حجرې لهٔ کړکۍ رڼا راوته، سیوري خوځېدل...

پهٔ ښنګ شو، ښۍ ښنګل یې پورته کړه، دروزاه یې پرې ټېله کړه، ناست خلک ورمتوجه شؤل، مخکې لاړ، قدمونو یې (دپ دوپ) کؤل...
شېرباز نوی راغلی و، راجګ شو، ستړي مهٔ شي یې وکړه. علیمردان وغځېد، پیالې یې ورنژدې کړې، ډکؤلې یې، د چایجوشې لهٔ خولې تاؤ خوت...
چای یې تازه کړ، ارمونیي چایجوشه یې د غولي پر منځ کېښووده.
شېرباز ښراغ ته وکتل، دود یې کاوهٔ، لاس یې وغزاوهٔ، رڼا تته شوه.
دوی حلقه ناست وو. شېرباز پهٔ افسوس وویل:

- میاشو سپین کړم، د ماشومانو کباب جګ شو!

شېرمامد لاس وغزاوهٔ، ګؤړه یې خولې ته کړه، پهٔ لاړجنه خولهٔ یې وویل:

- کهٔ ژمی وای، میاشتې- میاشتې به دې ورته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي مردان متوجه سترګې نیولې وې...

شېرمامد پهٔ پوزه کې ګوتې وهلې، پهٔ غنګن غږ یې وویل:

- پېښور مې ښهٔ وطن دی، ژېړ ګروپونه، لهٔ شوره ډک ماښامونه او د تلویزیون ډرامې مې یې ښې ایسېږي.

شېرباز وپرنجېد، د څراغ ښیښې څغغغ کړل، ټولو ور وکتل.

علیمردان پیالې ته لاس ور وغځاوهٔ، زوړ چای یې توی کړ، پیاله یې ډکؤله، شېرباز وویل:

- ایسته کوه یې! پرې پوخ دې کړم.

شېرمامد پهٔ تلوسه وویل:

- څو روپۍ راټولې شوې؟

شېرباز سترګې چوغې کړې، بیا یې وویل:

- د وادهٔ پهٔ سر پنځه سوه زره، ټولې درې سوه او اویا لکه!

شېرمامد پهٔ کونج کې ایښې نیمې ډکې بوجۍ ته وکتل.

شېرباز پهٔ ټوکه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اوغانۍ جګيړي او ټيټيړي، چې له مستري سره ګرۀ پاتې نۀ شو.

ټولو وخندل، شېرباز پر مټ ترلی سات رېوند کړ، څراغ ته يې ونيوۀ، ويې ويل:

- ناوخته شوه، ځۀ چې خوارۀ شو. بوجۍ دې عليمردان يوسي. لمانځۀ مهال به سره يو ځای کېږو.

عليمردان بوجۍ پۀ شاه کړه. روان شو، درانده قدمونه يې اخيستل...
د کلا دروازه يې پۀ لغته ورټېله کړه، ننوت. بوجۍ يې د دروازې شاته کېښوده، بېرته بهر ووت.
شېرباز و شېرمحمد ولاړ وو، څراغ شمال رپاوۀ... پيالې يې ورټولې کړې وې، عليمردان ته يې ونيولې، هغه څراغ ور واخيست، تر پټنوس لاندې يې ونيو، پر ورغوي، يې پټنوس برابر کړل، پۀ خولۀ يې خدای پۀ اماني وکړه. شېرباز و شېرمامد روان شؤل...
کيڼ لوري ته ځېر شو، کوليان پراتۀ وو، شخوند يې واهۀ...
ننوت، پټنوس و څراغ يې کېښودل، لاسي بجلۍ يې را وويسته، روښانه يې کړه، پۀ خولۀ کې يې ونيوله، کوږ شو، بوجۍ يې پۀ شاه کړه.
لمر خاتۀ او پربواتۀ ته درې - درې کوټې وې، لمرخاتۀ خوا ته ورغی، د دالان دروازه يې ټېله کړه، بوجۍ يې کېښوده، پۀ بيره لاړ، د دروازې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګ ایښی څراغ او پتنوس یې ور واخیستل، نور شیان یې پر ګرمچي کېښودل، د ګوړې قابونه یې کوټې ته یوړل.
د دالان دروازه یې بنده کړه، کېن لاس ته یې رڼا واچوله، پر جېب یې لاس وتپاوهٔ، کیلي یې ور وویسته، دروازه یې خلاصه کړه، ننوت، نرۍ توشکه، څادر او بالښت یې ځنګ ته کړل. بهر ووت، توشکه و څادر یې بام ته ور واچول، توشکه را وغورځېده، بالښت یې ور واچاوهٔ، درب یې شو.
توشکه یې ورپورته کړه، لاس یې پرې تېر کړ، پهٔ تخرګ کې یې ونیوله، پر لرګینه زینه وخوت. ځای یې برابر کړ، پرېووت.
میاشو پهٔ عذابول کول، پهٔ څادر کې پټ شو، د پېښور پهٔ خیال کې لاړ... پرېښانۍ وړی و.
پهٔ اړخ واوښت، راویښ شو، بالښت یې ورپورته کړ، بجلۍ یې ور واخیسته، لاسي سات ته یې برابره کړه، اذان ته یؤ سات پاتې و. ځرپ و ځروپ یې واورېد، د بام ژۍ ته وروځښېد، پهٔ ګؤنډو شو، لاندې یې وکتل، پلار یې څراغ لګولی و، اوداسهٔ ته ناست و.

پورته شو، توشکه و بالښت یې پهٔ څادر کې تاؤ کړل، لاندې یې خطا کړل، (درب) یې کړل، پلار یې وروکتل، پهٔ زینه ښکته شو، د کلا دروازې ته ورغی، خلاصه یې کړه، بهر ووت، حجرې ته ورغی، بجلۍ یې ورواچؤله، څوک نهٔ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته ننوت، لوښکه یې ډکه کړه، اودس یې وکړ، پورته یې وکتل، اسمان وریځ و.

غړ یې واورېد، شاته یې وکتل، انا یې سلام گرځولی و، پهٔ لوړ غږ یې کلیمې تازه کولې.

بهر ووت، مخامخ ویاله وه، دوه کسان ناست وو، شړپ و شړوپ یې اچولی و، ورغی، شېرباز و شېرمامد وو، ستړي مهٔ شي یې وکړه، لنډې خبرې وشوې، علیمردان ننوت.

شېرباز کېناست، د بېگ کشک یې خلاص کړ، د شېرمامد جامې یې ور واخیستې، پهٔ بېگ کې یې ځای کړې.

علیمردان لهٔ ویښو خلکو سره خدای پهٔ اماني وکړه، بوجۍ یې پهٔ شا کړه، پلاستیکي خلطه یې لاس کې وه، بهر ووت، خلطهٔ و بوجۍ یې کېښودل، شېرباز خلطهٔ ور واخیسته، پهٔ بېگ کې یې تخته کړه. د خېر دعا وشوه، علیمردان شا واړوله، د بوجۍ څوکې یې ونیولې، شېرباز ورپورته کړه، هغوی کوېلونه او بېگ ور واخیستل، روان شول...

پاؤ وتی و، مومندي ته ورسېدل. ملا اذان وکړ، دوی وروکتل، هغه پر لنډې دېوال ولاړ و، لاسونه یې غوږونو ته نیولې وو. جاله وان شپېلی وواههٔ، دوی ورتېز شؤل. ور ورسېدل، جاله یې وتړله، د خېر دعا وشوه، جاله وان د جالې مزی ورکشاوهٔ. هوا لگېده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

جالې ټکان وخوړ، ودرېده، ښکته شؤل، بار يې ښکته کړ، لهٔ جاله وان سره يې خداى پهٔ اماني وکړه، روان شؤل...
د کوز پلهٔ پر چړايي ور وختل، عليمردان تېزه - تېزه ساه اخيسته، شېرمامد ور وکتل، ويې ويل: سګرټو ته کش ورکړه!
عليمردان غلى و. سرک ته وختل، بوجۍ يې کېښوده، د واسکټ پر جېب يې لاس وردننه کړ، سګرټ او اورلګيت يې ور وويستل، سپين دود پورته شو.
خال خال موټر تېرېدل... هوا ښه لګېده، مخ پورته لاړل. د طالبانو ډاډسن تېره شوه، د ترانې غږ لرې کېدهٔ... د سروبي بازار ګرم وي، خو لا وختي وه، ايله يؤ څو دوکانونه خلاص وو. شېرمامد سات ته وکتل، پنځهٔ ويشت دقيقې وتې وې. پهٔ هډه کې تم شؤل، سپيو غپل، سره و به ننبتل، کوړنجا يې خته.
د دولتي پمپ مخې ته بېروبار و، کيلينډر د تورخم – جلال اباد چغې وهلې...
شېرمامد ته ورغى، کرايه يې يؤ لک او شل زره افغانۍ وويله. غږ يې جګ شو، پهٔ يؤ- يؤ لک افغانۍ سره جوړ شؤل، بار يې مفت حساب کړ. کيلينډر د موټر شا ته ورغى، پر زينه يې  غبرګ لاسونه کېښودل، چپه پښه يې پورته کړه، پهٔ زينه کې يې ورکېښوده، د ملي بوس سر ته وخوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان کوټلونه ورپورته کړل، کیلینډر سم کړل، پړی یې پرې کش کړ، بېرته ښکته شو، لاسونه یې ټک وهل، لمن یې وڅنډله. شېرمامد ور وخوت، بار یې وکوت، بېرته کوز شو.
رڼایي خوره شوه، دوه سورلۍ کمې وې، ډرایور په شیشه کې کتل، موټر ته به یې ریز ورکړ، لږ به وښورېد، بېرته به ودرېد.
یو سپین ږیری پورته شو، شمله یې شاته واړوله، په لوړ غږ یې وویل:
بسم الله کړه استاذه! خدای مهربانه دی، دوه کسه به په لاره درجګ کړې!
ډرایور سر وویست، له لرې را روان هلک یې سۍ کړ، کیلنډر ته یې وکتل، هغه ښکته شو.
یو سپینکی هلک راورسېد، پر اوږه یې تور بېګ و، له کیلینډر سره وغږېد، مینیبوس موټر ته ورپورته شو، ډرېور ارنډ وواهه، حرکت یې وکړ، کیلینډر ورمنډه، د دروازې ډنډه یې ونیوله، ځان یې ور ټال کړ، په دروازه کې نېغ ودرېد.
موټر ګړندی شو، بازار منډې وهلې، دوی نغلو ته وکتل، شېبه ووته، د کوز بند له تونله ور ووتل، ډرایور غږ کړل: ((یوه د خیر دعا!))
لاسونه پورته شؤل، څوک پسنېدل، چا په زوره دعا وویله.
سورلیو له کړکیو د باندې کتل. شېبه وروسته مجلسونه شورو شؤل، څو بجې دي؟ څو ساته لاره ده؟ تر تورخم ها خوا کیسې کوه! ته چیشي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان یې؟
اخر او ورپسې سېټونو ته پردې پرتې وې، چا (عووق) کړل.
شېرباز کوږ شو، په ملي بوس کې یې لاړې تو کړې، پښه یې پرې کش کړه.
(شغغغ) شو، موټر ټکان وخوړ، ودرېد. ویده خلک راویښ شول، کلیمې شورو شوې. ډرایور موټر سایکل سپاره ته وکتل، په غوسه وویل: ((د ... زو!)) موټر حرکت وکړ...
لږ وروسته ورو شو، چېک پواینټ و، ودرېد، څنور طالب ولاړ و، ورپورته شو، مخابره وکغېده، شفر یې واورېد، شا و خوا یې وکتل، سلام یې وکړ، خلکو ځواب ورکړ.
ښځې چوپ وې، ببگونه و بوجۍ یې تلاشي کړل، ښکته شو، جنګلې ته وخوت، بېرته کوز شو. اجازه یې ورکړه، موټر روان شو. کیلینډر پورته شو، د ملي بوس پاسنۍ ډنډه یې ونیوله، په لوړ غږ یې د کرایې د راویستو خبره وکړه. شرک و شړوک شو، پیسې شمېرل کېدې...
شېرباز د واسکاټه، جیب ته لاس کړ، بنډل ته یې وکتل، ګوته یې لنده کړه، شپېه وروسته یې لاس پورته ونیو، د دریو کسانو کرایه یې ور کړه.
کیلینډر پر ماشین کېناست، پیسې یې سمولې...
سورې غر ښکاره شو، موټر ورنژدې کېدو، پر تونل ورننوتل، د درونټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکانونه ښکاره شول.موټر ودرېد، طالب ورپورته شو، هلکانو د موټرو شیشو ته ګني او بادرنګ نیولي وو.
طالب مخکې لاړ، يوۀ سيټ ته ودرېد، پۀ سروبي کې ورختلی سپینکی هلک يې وپوښت: ((د کوم ځای يې؟))
هلک ودرېد، ډاډه وغږېد:

- ننګرهاری يم، پېښور کې د مچیو کار کوو.

- سروبي کې دې څۀ کول؟

- مال مو راغلی و، څۀ پیسې وې.

- کور مو پېښور کې دی؟

- هو! بورډ کې اوسېږو.

طالب لاندې وکتل، بېرته وګرځېد، هلک پر سيټ کېناست، خلکو ور وکتل، موټر روان شو...
شېرباز د کمپس لمن وهله، پر تندي يې لاس تېر کړ، ويې کوت، لوند و، سور تپ لګېدۀ...
موټر هوټل ته ور تاؤ شو، سورلۍ ښکته شوې، ځینې پر ځای ناستې وې.
ډوډۍ وخوړل شوه، کتار نلکې وې، خلک ورته ناست و، شړپ و شړوپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې خوت...

موټر چالان شو، ډرايور په خوله کې ډکی واهه، شاته سيټونو ته يې وکتل، ارنډونه يې ووهل، موټر ته يې ريز ورکړ، کيلينډر ورپورته شو، خلک يې وشميرل، د حرکت غږ يې وکړ، موټر ګړندی روان شو.

د تورخم بازار ښکاره شو، موټر ورلنډېده، خلکو د مخې شيشې ته ورکتل...

موټر له ګڼې ګوڼې ورتېر شو، لاسي کراچيو رش جوړ کړی و، شېرباز پورته شو، شخې يې وويسته، شېرمامد ته يې وکتل، ويده و، و يې ښوراوه، ويښ شو، پښو ته يې وکتل، د پېسو پر بوجۍ يې نظر تېر کړ، ويې څښوله، لاندې يې کوزه کړه.

کيلينډر پاس وخوت، غوټې يې ورکوزولې. دوی خپل سامان ورواخيست، څلور ټايره کراچۍ يې ونيوله، ورپسې شول.

يو اوسپنيز ډانګ ښکاره شو، ها خوا – دېخوا ګڼه ګوڼه وه. کراچۍ ته ځير وو، عسکر ولاړ وو، غوټې يې پلټلې، ځينو پيسې ورکولې، ترو تېرېدل.

شېرمامد پنځه داني لس زره ګوني قات کړي وو، د عسکر لاس ته يې موټې ورنژدې کړ، هغه لاس خلاص کړ، موټی يې بند کړ، ځان يې اخوادېخوا کړ، بغل جيب ته يې لاس دننه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ورتېر شؤل، کراچیوان ولاړ و، سره یؤ ځای شؤل، حرکت یې وکړ. د کبابو بوی و، لهٔ هوټلونو د موسیقۍ غږ خوت... موټروانان ولاړ وو، خلک یې ور بلل، شېرمامد واسکټ وویست، ملا یې لنده وه، موټروانانو کشول کول، خو دوی لهٔ هڅې سپړېدل.
موسیقي چالان وه، د دوی د احساس تاخانې به یې ور وتخنولې.
د صرافانو شوکېسونه ایښي وو، پیسې پهٔ کې ښکارېدې. شېرمامد ودرېد، روپۍ یې بیه کړې، مخکې لاړ، بل صراف ته ودرېد، هغه د حساب ماشین ور واخیست، ژر- ژر یې بټنې ووهلې، چنې یې سره ووهلې، بوجۍ یې کېښوده. د څنګ لهٔ شوکېسه دوه هلکان ورجګ شؤل، د صراف تر خوا کېناستل، د بوجۍ خولهٔ یې پرانیسته، افغانۍ یې شمېرلې... یؤ نیم لوټ به یې څنګ ته کېښود، دغه یې دوستمۍ بللې، نیمه بیه یې لرله.
صراف د حساب ماشین ور واخیست، بټنې یې ووهلې، جېب ته یې لاس کړ، کیلي یې ور وویسته، د شوکېس کولپ یې خلاص کړ، یؤ بنډل روپۍ یې ور وویستې، ګوته یې لنده کړه، پیسې یې وشمېرلې، شېرمامد ته یې ونیولې، هغه دوه ځله پرې ګوته واړؤله، پوره وې، واسکټ یې واغوست، د څنګ کشک یې پرانیست، پیسې یې پهٔ کې کېښودې، کشک یې کش کړ، د راحتۍ احساس یې وکړ، روان شؤل.
تختونه ایښي وو، ګڼ خلک پرې ناست وو، د هوټل شاګردانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمایشونو غړونه کړل. د مسالو بوی خوت. دوی روان وو...
فلایکونچونه ولاړ وو، د (باډرو) چیغې یې وهلې. شېرمامد د واسکاټ
کشک کش کړ، پیسې یې ور وویستې، د کمیس په جېب کې واچولې.
درېواړو واسکټونه او خولۍ ګانې لرې کړې.
بیه مالومه وه، سامان یې جنګلې ته ورپورته کړ، دوی د شاه سیټ ته ور
واوښتل.
شېرمامد شیشه ټېله کړه، له چولې هوا ورننونه، بهر یې کتل...
په سروبي کې بس ته ورختلی سپین پوستی هلک هم ور وخوت، تر دوی
دمخه سیټ کې کېناست. یوه سورلۍ کمه وه، ډرایور له شیشې سر
وویست، ارنډ یې وواهه، کیلینډر ور وخوت، موټر ګړندی حرکت وکړ،
له هډې ووت، دوړې پورته شوې.
کیلینډر په لوړ غږ د دعا غږ وکړ، د ټولو شونډې خوځېدې... شنې او
سپینې غرفې تېرېدې، موټروان څنګ ته لاس کړ، د ټېپ پیته یې ور
واخیسته، پر زنګانه یې وټپوله، ژبې ته یې ور وړه، پیته یې ور واچوله، د
ګلنار بیګم سندره چالان شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم څپرکی

نصرالله په چرګ پسې منډې وهلې... چرګ ستړی شو، په څنګ پرېووت، خولۀ یې وازه نیولې وه، تیګاه یې وهله... ورغی ورپورته یې کړ، کغېدۀ، په تخرګ کې یې ونیوۀ. خور یې چاړۀ ورکړه، نصرالله حجرې ته ورغی. پاچا چرګ حلال کړ، چاړۀ یې د چرګ پر ډډه وسولوله، چرګ شتکې وهلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا په خوند وویل: ښه غوړه ښوروا وکړئ!
نصرالله تېټ شو، چرګ یې له پښو ونیو، غاړه یې زنګېده، کور ته روان شو، پر لاره خال - خال وینه څڅېده.
کټونه یې سم کړل، ځمکنی پکی یې برابر کړ، باندنۍ هوا ډېره ګرمه نه وه.
پاچا روغبړ شورو کړ، موسکۍ خوله ناست و. مېلمنو د ټرانسفرمر کیسه شورو کړه، د سروبي حال یې هم ورسره پیوند کړ.
د دروازې ګړب شو، نصرالله کوږ ور روان و، د اوبو شین ترموز یې کېښود، پاچا پورته شو، ور وایې خیست، پر مېز یې کېښود، ټولو ته یې یخې اوبه ورکړې.
پاچا د وطن پوښتنې وکړې، بیا په پېښور راتاو شو، وغږېد، ژوند یې متفاوت وښود، راضي خبرې یې وکړې.
شېرباز د ګرېوان تنۍ خلاصې کړې، ځمکني پکي مخ ور واړاوه، ټټر یې یخ شو.
علیمردان غوږ نیولی و، مجلس خوند ورکاوه، بهر وتو ته یې تلوسه وه.
د سروبي په ځینو غونډیو شک و، چې ګنې تاریخي اثار او بوتان په کې دي، شېرباز همدا کیسه را اخیستې وه.
علیمردان مخامخ پورته وکتل، یؤ سر یې ولید، ورمتوجه شو، سر ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، بېرته مجلس ته متوجه شو.

شېرباز د طالبانو کیسې وکړې، شېرمامد لهٔ وچکالۍ فریاد کاوهٔ.

د پیالو رېږدېدا ور نژدې کېده، نصرالله پر مېز پتنوس کېښود، پیالې یې ډکې کړې، منده یې واخیسته، پهٔ بغل جېب کې پرتو توشلو یې شرنګا کاوهٔ...

علیمردان پورته وکتل، پر مخامخ بام دوه نجونې ولاړې وې، مینځلی سور فرش یې ور تهولاوهٔ.

سترګې یې ورپاتې شوې، لاندې مجلس یې وڅارهٔ، بیا یې وروکتل، بیا یې مجلس وڅاره، بیا یې وروکتل...

ورپاتې شو، زړهٔ یې خوږ شو، پهٔ دربېدا شو، څهٔ بدل غوندې احساس یې وکړ. شېبه وروسته یې بیا ور وکتل، یوې نجلۍ پکې سترګې ښخې کړې وې... موسکۍ شوه، چټک خرخ یې وخوړ، شاه یې ور واړوله.

پاچا د جمعې خبره وکړه. ټول جومات ته وخوځېدل...

علیمردان جګ شو، پورته یې وکتل، ناستې نجونې وشرمېدې، جګې شوې، پناه شوې، دهٔ ځان لاندې کتل...

قضا مازیګر و، لهٔ جوماته را وګرځېدل، پهٔ تنګه کوڅه ننوتل، د یوې بندې دروازې مخ ته ودرېدل، پاچا د کور پهٔ دروازه ننوت. د حجرې دروازه یې ور خلاصه کړه، ننوتل پر کټونو کېناستل، علیمردان پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتل، د سرهٔ فرش څنډې نهٔ ښکارېدې. اسویلی یې وویست، زړهٔ یې بې ځایه و، خولهٔ یې وچېده.
دغه پورې بام کانې وکړې، تماشه وه، دی یې تماشا کړ، فکر یې ټال وخوړ، خو داسې ټال، چې بېرته به را ونهٔ زنګیږي، داسې ټال چې همغسې وشکېده او لکه یوه حادثه چې شوې وي. اه! انجامونه د جریانونو نتیجې وي، کهٔ جریان بدل کړو، انجام بدلیږي، خو دهٔ بدلول نهٔ شوای کؤلی، دی لهٔ همدغه انجامه وېرېدهٔ...
تیارهٔ خورېده... پاچا پورته شو، څو ګامه یې واخیستل، دېوال ته یې لاس ور اوږد کړ، پر تخته تورې بټنې وې، یوه یې پورته کړه، ژېړه رڼا خوره شوه، کاګل شوي دېوالونه ښکاره شول، تر ګروپ لاندې پتنګان ورټولېدل...
پړک شو، شېرمامد غبرګ لاسونه سترګو ته ونیول، چیت شوی میاشی یې پوه کړ.
علمیردان سګرټ بل کړ، پورته یې پوه کړ، بام وربښکاره شو. شېرباز ورکتل، سګرټ اخر شو، دهٔ وغوښت، څو شوقې کشونه یې ترې وباسل.
د جومات لاسپیکر پوه شو، اذان شورو شو... پاچا پورته شو، جاینمازونه یې هوار کړل، کتار ودرېدل.
علیمردان غلط شو، بیا یې نېت وتاړهٔ. نیمایي کې یې سلام وګرځاوهٔ، بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېت وتاړهٔ. اخر رکعت شو، د سهوې سجده یې وکړه. شېرمامد پهٔ زوره – زوره کلیمې تېرې کړې، پر مخ یې لاسونه کش کړل.

جاینمازونه ټول شؤل، دوی پر کټ کېناستل.

شېرباز بي بي سي ونیوله. علیمردان پورته شو، بهر ووت، پر کوځه تېر شو، ژېړو رڼاګانو ته ورنژدې کېدهٔ، ګڼه ګوڼه وه، شور و، دوو هلکانو سره لاس اچاوهٔ.

د (بړو) دوکان ته ورتاؤ شو، لهٔ یخ پلورونکي ور تېر شو، هغه سانچه وهله... سلام یې وکړ، سګرټ یې وغوښتل، دوکاندار (کې ټو) سګرټ ورکړل، د پیسو ست یې وکړ، دهٔ مننه وکړه، پهٔ ذهن کې ورتېر شؤل (څهٔ نرم خلک دي!!)

بړو پوښتنه وکړه:

- دا هلک نوی و، څوک دی؟

یوهٔ ځوان چوندۍ خولې ته کړه، ویې ویل:

- لهٔ پاچا سره مې ولید، د هغوی مېلمه دی.

ووت، هغوی پسې کتل... د سګرټو لهٔ کوتیه یې پلاستیک وشکاوهٔ، سګرټ یې خولې ته کړ، پلته یې ورته ونیوله، پهٔ تته رڼا کې سپین دود

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته شو...
پهٔ تنګه کوڅه ورننوت، د حجرې د دروازې مخ ته ودرېد، پورته بام ته يې وکتل، لاندې يې وکتل، لرګينه دروازه وه، شنه پرده ورته زړېده.
چورت يې بل ور و، داسې کله نهٔ و شوی!!
لوګی يې پوه کړ، سګرټ ته يې وکتل، تر فلټره رسېدلی و، ډبی يې ور وويست، بل شوي سګرټ ته يې بل سګرټ ونيوهٔ، دود يې پوه کړ، فلټر يې خطا کړ، پښه يې پرې کش کړه، د حجرې دروازه يې ټېله کړه، پرده يې پر څنګل پورته کړه، ننوت، هغوی راډيو اورېده.
د پېښور (بوړډ) څو عمومي بازارونه لرل، خو د کوڅو لهٔ دوکانونو هم نيمچه بازارونه جوړ وو، ګڼه ګوڼه پهٔ کې وه. د نهر پر غاړه مېلې کېدې هلکانو لامبل، شرطونه تړل کېدل. تر نهر لږ هاخوا مېدانونه وو، هلکانو کرکټ کاوهٔ، د مېدان غاړو ته د سوپ او پاپړو کراچۍ ولاړې وې.
پهٔ کوڅو کې ژېړو ګروپونو زرپاشي کوٌله، شمال د تلويزيون غږونه راويستل، د نجونو د لوښو د مينځلو کړپهاری خوت، د بنګړيو شور به په کې ګډ شو. د پېغلو يوې - يوې خندا ژوندي کوٌل او مړهٔ کوٌل، کوٌل. ژوند خپلې نښې ښکاره کوٌلې... عليمردان پهٔ دغه شور کې او پهٔ دغه شور پسې مړ و.
پاچا و شېرباز بهر ووتل. دوکان ته ورغلل، يخ پلورونکي ته ودرېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اره ورواخیسته، یخ یې مات کړ، پهٔ پلاستیکي خلطه کې یې واچاوهٔ. پاچا دوکان ته ننوت، دوکاندار د پیپسي لهٔ دوو بوتلونو سرپوښونه لرې کړل. پاچا ځینو ملګریو ته د پیپسي ست وکړ، هغوی مننه وکړه.

بهر ووتل، شېرباز ګنې ګونې ته کتل... پهٔ لرګین کرېټ کې تش بوتلونه ایښي وو، پاچا بوتل تش کړ، پهٔ یوه خانه کې یې کېښود، شېرباز هم همداسې وکړل. پاچا یخ ور واخیست، دواړه روان شؤل...

نصرالله اوبهٔ واچؤلې، دسترخوان یې خور کړ. پاچا ورننوت، پټنوس یې لاس کې و، دوه کاسې ښوروا یې پر دسترخوان کېښوده، د ډوډۍ وړؤل شورو شول...

ګرپ شو، دوی شاته وکتل، نصرالله پر چیلمچي پښه ایښې وه، ځان یې کابو کړ، ننوت، پهٔ پټنوس کې د غوښې او سلاتې قابونه ایښي وو.

د علیمردان زړهٔ نیولی و، نورو شخوند واههٔ...

شېرباز لاس پورته کړ، لوښي یې اړخ ته کړل، پاچا پورته شو، پټنوس یې ورسره واخیست، نصرالله پهٔ منډه حجرې ته ورغی، اوبهٔ یې واچولې.

پاچا وویل:

- کوټه تېغلنه ده. درځئ، چې بهر کټونو ته شو.

علیمردان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زهٔ به مې ترور ووینم.

پاچا، نصرالله ته نارې کړې، هغه پهٔ منډه ورغی، دواړه کور ته ننوتل، پاچا پهٔ غاښ کې پلتهٔ وهله، بالښت یې سم کړ، د کټ پر لنگه کېناست. د باندې غړ شو، د پاچا نوم یې اخیست، دی ور ووت، پرده پورته شوه، هلک یې ورسره ننویست، ټول ورجگ شول، گرمه ستړې مهٔ شې یې وکړه.

همغه سپینکی هلک و، چې پهٔ سروبي کې موټر ته وروستی ورختلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریيم څپرکی

تندی يې نيولی و، د سر خوږ يې بهانه کړ، پاچا د ډاکټر ست وکړ، عليمردان (نۀ) وويل. دی پاتې شو، نورو هغو کوېلونه واخيستل، ريشکې ته وختل.
پاچا بلد و، د کويلونو نوی مستري يې وموند. د پراخ دوکان مخ ته يو پنډه سړی ناست و، د زاړۀ مستري پۀ پرتله ارزانکاری و، د ښۀ کار لاپې يې کولې. کويلونه يې وسپارل، تر کار يې خبرې ډېرې وې...
عليمردان د زړۀ جاګير بايللی و، دۀ هېڅ نۀ غوښتل، خو هر څۀ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل، فرشته هر څۀ وه!! زړۀ یې تنګ شو، بهر ووت، کوڅۀ یې وڅارله، بېرته ننوت، څمکنی پکی یې سم کړ، د توت سیوري ته پر کټ وغځېد.
پر بام د ماشومې غږ شو، اوچته جګ شو، پورته یې وکتل، ماشومې بال ور واخیست، لاندې یې خطا کړ، بېرته ښکته شوه.

ډېره یې ووهله، سګرټ یې بل کړ، پورته یې کتل، لکه اسمان چې څمکه شوی وي او ټول ژوند هلته وي. د سګرټ ایره یې وڅنډله، پورته یې وکتل، نجلۍ ولاړه وه، ټول کاېنات حاضر و!!
کېناست، سګرټ یې وار کړ، د کور خوا دروازې ته یې وکتل، بنده وه.
پورته یې وکتل، نجلۍ ولاړه وه، سترګې یې سره وجنګېدې، زړونه بدل شول، فکرونه بدل شول، ژوند بدل شو، کاېنات بدل شو، هر شي مهرباني کوله. ورکتل یې... نجلۍ وخندل، شاه یې واړؤله ښکته شوه.
پۀ چورت کې شو، دغه شېبه یې بیا غوښته، دا کاېنات یې ولاړ غوښتل، وخت یې غلام غوښت، دوه سترګې یې بام ته نیولې وې... خو کاېنات څرخ خوړ او منظرونه یې بدلؤل.
بام ته یوه پړه ور خطا شوه، څېر شو، بله نجلۍ وه، خځلې یې ټولولې، علیمردان ته یې پټ – پټ کتل... علیمردان حیا کوله.
فرشته بیا ور وخته، دواړو خځلې ور ټولولې، دۀ ور وکتل، نجلۍ حیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله، نظر به ترې یاغي شو.
علیمردان بدل شو، بې عقله شو، بې فکره شو، هر څۀ یې هېر شول، بېخي بل څوک شو. نجونې ښکته شوې. علیمردان بام ته کتل...

- اه! دا نجلۍ!! کۀ لاړم هم، ټول به ورسره پاتې شم...

ګرېب شو، پۀ بیره یې شاته وکتل، نصرالله وویل:

- مور مې دې غواړي.

- تۀ ورځه درغلم.

نصرالله منډه کړه، علیمردان تشناب ته ورغی، نلکه یې سسته کړه، ځړېدلی سر ناست و، پۀ چورت کې و...
مخ ته یې اوبۀ واچؤلې، لمن یې چپه کړه، پر مخ یې وسولوله، کور ته دننه شو. انګړ کې وټوخېد، ګل روپۍ ور پورته شوه، لاس یې ورکړ، پر مخ یې ښکل کړ، پر کټ کېناستل.

ګل روپۍ وویل:

- وطن پۀ څۀ غوره کې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښهٔ دی، گوزاره کوو. زړهٔ مې دی را مسافر شم، دلته به څهٔ خاورې پهٔ ایرو ورګډوو...

نصرالله اوبهٔ راوړې، دهٔ ته یې جام ونیوهٔ، پهٔ سر یې واړاوهٔ. ګل روپۍ تسبې اړولې، د ساخته ګي غاښونو کړپا یې خته.
علیمردان پهٔ چورت کې و... رویا ورغله، دی ودرېد، څړېدلی سر ولاړ و، هغې لاس ورکړ، دی بېرته کېناست.
نصرالله لهٔ کوټنۍ راووت دوه هګۍ یې پهٔ لاس کې وې، پخلنځي ته یې منډه کړه. لهٔ تنارهٔ دود پورته کېدهٔ...
رویا ورغله، توده ډوډۍ یې ورته ونیوله، علیمردان سر پورته کړ، یوه مړۍ ډوډۍ یې ترې بېله کړه، څړېدلی سر ناست و، خولهٔ یې ښورېده.

نصرالله پهٔ خوشالۍ وویل:

- کهٔ زړهٔ دې پهٔ تنګ وي، بازار ته به لاړ شو.

مسکی شو، ترور ته یې وکتل، هغې وویل:

- لاړ شئ، سات به مو تېر شي.

بل جام اوبهٔ یې وڅښلې، پورته شو، پلاستیکي څپلکې یې پښو کړې، نصرالله منډه واخیسته دی ورپسې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاته یې وکتل، لرګینه دروازه وه، شنه پرده ورته زړېده!
پوښته یې وکړه:

- دغه د چا کور دی؟

نصرالله وخندل، علیمردان وارخطا شو، په بیړه یې وویل:

- ولې دې وخندل؟

- نوم یې د خندا دی؟

- پوه دې نهٔ کړم!!

- حاجي دسترخوان نومېږي، رویا، فرشتې ته هر وخت وایي، نومونه په پیسو دي؟

دواړه وخندل، علیمردان ساه واخیسته، فکر یې بدل کړ. ورو یې وویل:

- دا د کوم ځای دی، چې داسې نمونه نوم یې دی؟

- د ننګرهار دی، غټ رنګه تلویزیون غږوي.

- داسې خلک ډېر بد وي، کهٔ څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه! ښهٔ خلک دي، کاسه دود ورسره لرو، خوندور شیان پخوي، لوښي یې موږ کره راځي، یوه یې ډېره شوخه ده، مور یې کنچنۍ بولي.

نصرالله وخندل، د بادیوې کیسه یې را واخیسته، علیمردان خبره بدله کړه، بیا یې وپوښت:

- کنچنۍ خو بد نوم دی، ولې یې ورته اخلي؟

- شوخه ده، پهٔ کور کې لهٔ ماشومانو سره کرکټ کوي، غالېجنه ده، غټه ده، کنه روزانه به مې وهله.

... شور او زوږ را نژدې کېده، د هندوانو، امونو او شربتونو رېړې ولاړې وې، تر سرک پورې غاړه کبابي ناست و، ها خوا د گنیو د قېچي کړچونه ختل، دې یؤ څو ختکي کؤته وو.
مخکې لاړل، عمومي سرک ښکاره شو، گڼې رنگه ډبې تېرېدې، کیلینډرانو یې خلک وربلل.
علیمردان د هندوانو یوې ډېرۍ ته ودرېد. بیه یې کړې، د پنځوس روپیو یې وتللې. نصرالله وویل:

- د پنځوس روپو ډېر شی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کور ته یې وړو.

نصرالله وشرمېد:

- نه، پاچا لالا مې یې هر وخت راوړي، تهٔ خو مېلمه یې، شرم دی.

علیمردان موسکی شو.

پلورونکي درې هندوانې بېلې کړې، په ډاډ یې وویل:

- پهٔ چاقو یې ووهم؟

- هو، خو بیا مجبور یې پلاستیک را کړې.

درې واړه یې ووهلې، سرې وې، د یوې هندوانې وهلې ترازه یې علیمردان ته ورکړه، هغه لږ وخوړه، پاتې یې نصرالله ته ونیوه، هغه ست وکړ.
دوه هندوانې دهٔ یوه نصرالله ور واخیسته. د څنګ دوکان ته ور تاو شول، پلاستیکونه یې پر ځمکه کېښودل، د لوبو موټر یې ور پورته کړ، نصرالله ور وړاندې شو، ورو یې وویل:

- زوی ته دې اخلې؟

علیمردان وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه، زوی مې لهٔ کومه کړ، وړوکی هلک یم.

نصرالله وخندل، موټر يې ور واخيست، چپه يې کړ، ټايرونه يې تاؤ کړل، بېرته يې ورکړ، عليمردان وويل:

- تا ته مې اخيست.

نصرالله په خجالت وويل:

- لهٔ ماسره پيسې شته، کور کې مې ساتلي دي، بيخي يې نهٔ اخلم. تهٔ څو کلن يې چې وادهٔ دې نهٔ دی کړی؟

عليمردان وخندل:

- ۲۳ کلن يم، پلار مې پر قران شريف نېټه ليکلې ده.

موټر يې کېښود، خلطې يې ورپورته کړې، تر سرک پورې يې کتل، شور خوند ورکاوهٔ...

عليمردان ټوغ شو، خلطې يې کېښودې، پر جېب يې لاس وتپاوهٔ، ډبی يې ور وويست، سګرټ يې بل کړ، سپين دود پورته شو.

نصرالله سګرټ ته پهٔ ارمان ورکتل...

عليمردان دود پوه کړ. ورو يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- و دې نهٔ ويل، چې د دې ځای خلک ولې دومره بده خولهٔ ښوروي؟

نصرالله پهٔ خوند وويل:

- نه! لهٔ افغانستانه راغلی هر سړی وايي، د دې ځای خلک نرم دي.

عليمردان خبره بدله کړه، ويې ويل:

- تا ويل، هغې نجلۍ ته يې مور کنچنۍ وايي!؟

نصرالله وخندل:

- مور يې پهٔ غوسه کوي، فرشته پهٔ لوړ غږ خاندي، خو ماښام چې يې ورونه راشي، غږ يې ورک شي.

سګرټ يې تو کړ، ورو يې وويل:

- خندا کول بد کار دی؟

- خود!! بې ستري ده کنه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څنګ يې درې ټايره کراچۍ تېره شوه، لږ مخکې رڼا ته ودرېده، عليمردان ورغی. فالوده يې راواخيسته، نصرالله هندوانې وزن کولې. عليمردان کاشوغه په خوله کړه، په خوند يې وويل:

- هوښيار يې ښه!

نصرالله د غرور احساس وکړ، ډاډه شو، خبرې کول يې غوښتل. عليمردان وويل:

- د دې نجلۍ ورونه څه کار کوي؟

- يو يې په خارج کې دی، دوه يې د مچيو کار کوي، بل يې ډاکټر دی او دا يو يې لکه لوفر هره خوا ګرځي.

- دا خپله څه کوي؟

نصرالله وخندل:

- نجلۍ به نو څه وکړي؟

عليمردان هم وخندل:

- نه! تا ويل، چې کرکټې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو، مخکې ښوونځي ته تله، اوس يې بنده کړې.

عليمردان د نصرالله قاب ته وکتل، پورته شو، قابونه يې کراچيوان ته ونيول. خلطې يې ورواخيستې، دواړه روان شؤل.
د کوڅې سر ته ورسېدل، عليمردان پوښتنه وکړه:

- تا ويل تاسو کره هم درځي؟

د نصرالله خبره پرې شوه، د شا لهٔ خوا سلام وشو، عليمردان ور وکتل، پهٔ سروبي کې موټر ته وروستی ورختلی سپينکی هلک و. سترې مهٔ شي او روغبړ يې شورو کړل. درې سره پر کوڅهٔ ننوتل.
سپينکی هلک د پاچا تر حجرې پهٔ بيړه تېر شو، شاته يې مخ کړ، پهٔ لوړ غږ يې وويل:

- يوه دقيقه!! دروازه خلاصوم.

عليمردان او نصرالله (نه) و (نو) وکړل، سپينکی هلک شله و!!
پر لويه دروازه ننوت، د وړې لرگينې دروازې قيد وکړپېدهٔ، دروازه بېرته شوه، عليمردان ست وکړ، سپينکي هلک نصرالله ته مخ کړ:

- هندوانې در واخله، کور ته يې يوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان وویل:

- خبر دی، همدلته به یې وخورو!

سپینکی هلک ور وړاندې شو، د علیمردان لهٔ لاسه یې هندوانې ورواخیستې، د پاچا د کور د دروازې مخې ته یې کېښودې، ورغی علیمردان یې لهٔ لاسه ونیوهٔ، حجرې ته دننه شول، پکی یې ولګاوهٔ، یخه هوا ولګیده. سپینکی هلک کور ته ننوت.
علیمردان بل وړ حالت محسوساوهٔ، سر ورباندې ګرځېدهٔ، زړهٔ یې را هسکېده، خولهٔ یې وچېده... اه! دا در او دا دېوال!!
دلته یوه جهانه نجلۍ اوسېږي!! دلته زهٔ یم، دلته هغه ده، دلته ژوند دی، هر عام دلته خاص دی!!
حجره یې تر نظر تېرؤله... اه! بده ورځ مې یاره ده، بېلتون مې ابدي ملګری دی، لهٔ دې سترګو پرته، لهٔ دې پهٔ کړس خندا پرته به ژوند نوم ونهٔ لري!!
لهٔ حجرې کور ته وروتې دروازه خلاصه شوه، علیمردان ټکان وخوړ، پورته یې وکتل، سپینکی هلک ولاړ و. ګیلاس یې ډک کړ، علیمردان ته یې ونیوهٔ، پهٔ سر یې واړاوهٔ، جک یې کېښود، پورته شو، تلویزیون یې چالان کړ، غږ یې ورکړ، پهٔ خوند یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کارونه مو څنګه شول؟

- پاتې دي، هغه نور لهٔ پاچا سره لاړل، زهٔ ناروغ وم، فشار مې ټيټ شوی و.

- پاچا دې ترورزی کېږي؟

- هو

- دا نور دواړه مو څهٔ کېږي؟

- کليوال دي، پهٔ اشر، غم او ښادۍ سره شريک يو.

- څهٔ کار کوې؟

- همدا پوله و پټی!

- خبر نهٔ وم، چې پاتې يې، درته پاتې کېدم، چکر مې درکاوهٔ، تاتارا او باغ ناران ښهٔ پارکونه دي؟

کور ته وتې دروازه ورو- ورو ټک- ټک شوه، سپينکی هلک پهٔ بيړه پورته شو، ووت، بېرته راغی د پيالو رېږدېدا خته...
برقونه لاړل، تيارهٔ شوه، سپينکی هلک پورته شو، څراغ يې بل کړ، ژيړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا خوره شوه، کوټه تېغلنه وه.

هلک ننوت، علیمردان پورته شو، کوټې ته یې وکتل، څپلکې پرتې وې، بېرته ننوت.

هلک را ننوت، پتنوس لهٔ سرې هندوانې ډک و، یخه وه، ښه لګېده.

کوټه کې د ریکشې غبږ شو، علیمردان د کوټې خوا دروازې ته وکتل، ژېړه رڼا خوځېده، بهر ووت، پاچا نژدې و، حېران شو، په لوړ غږ یې وویل:

- لکه چې کور دې غلط کړی دی؟

- نه! د ګاونډ هلک لهٔ نصرالله سره ولیدم، شله و، بو یې تلم.

پهٔ لوړ غږ یې وویل:

- برقونه تللي، زموږ حجرې ته ځو، هلته هوا چلېږي.

بېرته ننوت، پنځه دقیقې ووتې، پاچا ورغی، سپینکی هلک شله و، ډوډۍ یې تیاره کړې وه. پاچا وویل:

- د حجرې انګړ ښهٔ دی، د یوهٔ کور خبره ده، هملته به یې وخورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اه! علیمردان په همدې مقام کې ابدیت غوښت، له همدې مقامه پرته یې بل هر مقام نفي غوښت، اه!... هلک د کور د دروازې پرده جګه کړه، په زوټه یې نارې کړې:

- د حجرې دروازه در بنده کړئ!

د پاچا حجرې ته ننوتل.
تر نیمې شپې کیسې وشوې. سره وخوځېدل، سپینکی هلک کور ته لاړ، دوی په حجره کې وغځېدل.
شپه پخه شوه، علیمردان ویښ و، بې حسه و، هر امکان ورته فاني او هر ناممکن ورته محسوس و...
د لاسپیکر ټکا شوه، اذان شورو شو، کېناست، اسویلی یې وکړ، انګړ ته ووت، پر دېوال یې لاس وټپاوه، د ګروپ بټنه یې ووهله، ژېړه رڼا خوره شوه. تشناب ته ننوت، ځړېدلی سر ناست و، شېرباز کلیمې ویلې، ژر- ژر یې اودس وکړ، انګړ ته راووت.
لمونځونه وشول، شېرباز تسبې اړولې، شېرمامد وظیفات راویستی و، علیمردان وغځېد.
ترپ شو، پر غولي دسترخوان پروت و، نصرالله سپینه خولۍ پر سر کړې وه، په منډه ووت، چای جوشه یې ور وړه، پاچا دوه قابونه په لاس کې نیولي وو، پر دسترخوان یې کېښودل، له ماینچو تپونه پورته کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان پورته شو، بهر ووت، مخ یې ووینځهٔ، بام ته یې وکتل، د لاچي ونه شمال خوځؤله...

وطن ته تګ چورتي کړی و، څهٔ به کېږي، ژوند به څنګه وي؟ څهٔ وو، څهٔ ور وشول!!

پاچا ووت، شېبه وروسته پهٔ تنګه کوځهٔ کې د رکشې غږ را نژدې شو.

شېرباز و شېرمامد ووتل، علیمردان خفه و، د وروځو منځ یې د ښي لاس پهٔ دوو ګوتو نیولی و. هغوی مسترې ته ورغلل، علیمردان پاتې شو.

پهٔ انګړ کې لمر لګېدهٔ، کټ یې وغښاوهٔ، د توت ونې ته پرېووت. پورته یې کتل، بادیوه پرېده، متوجه شو، غږ یې وکړ: (نصرالله!)

نصرالله ځواب ورکړ، دی یې وروغوښت.

پورته شو، وړه شیشه یې مخ ته ونیوه، څپلکې یې پر پښو کړې، کور ته وتې دروازه یې ټېله کړه، پرده یې پورته کړه، دننه یې وکتل، ګل روپۍ سابه پاکول، رویا لوښي مینځل، نصرالله تار ته ټکانونه ورکول، ورغی، لاس یې چترۍ کړ، پورته یې وکتل، نصرالله وویل:

- اوس خو مو انډیوالي شوه، چې پاچا لالا ته مې و نهٔ وایې!!

سترګې یې چوغې کړې، بادیوه پوو ورته وه، سپین تار تر یوهٔ ځایه ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصرالله په ارمان وویل:

- نشته کنه، چې بله بادیوه وای، تا به مې جنګ لیدلی و!!

بادیوه ټیټه شوه، ژر- ژر یې تار ورټول کړ، هسکه شوه، څو ټکانونه یې ورکړل، لاس یې پر سینه کلک – کلک لګېدهٔ.
د کلا دروازه بېرته شوه، یوه پاکه ماشومه ور ننوته، د وړو سپېروني یې پهٔ لاس کې و، د تنارهٔ پر غاړه یې کېښود. علیمردان ور وکتل، رویا ولاړه وه، بېرته بادیوې ته ځیر شو.

نصرالله پهٔ خوند وویل: (څرخه نهٔ شې تاوولای؟)

علیمردان څنګله ماته کړه، د چپ لاس پر مړوند یې د څرخې غټه خوا کېښوده، د ښي لاس پر درېو ګوتو یې څرخوله...
د کلا دروازې ګړب کړل، نصرالله ور وکتل، ویې وخندل:

- کنچنۍ ده!!

اه! علیمردان څرخه او د زمانې څرخونه هېر کړل، نجلۍ ته یې وکتل، ټول ور پاتې شو، هغې لهٔ سره د وړو کلیې ښکته کړه، علیمردان ته یې وکتل، اه! تکرار ولې لهٔ دې شېبې سره وران دی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوش اوازې فرشتې لوړ غږ وکړ: (رويا! وه رويا!)

لهٔ کوټې يوه ځاغه نجلۍ ور ووته، ځټک ګامونه يې واخيستل، د دواړو خولې موسکې وې، رويا لاس ور اوږد کړ.
اه! د ځمکې پهٔ انسان کې دومره اثر نهٔ وي!!
زړهٔ يې دربېدهٔ، تېزه- تېزه ساه يې اخيسته، سترګې به ترې ياغي شوې، فرشتې ته به يې وکتل، رويا دواړو ته په نوبت کتل، زمانې همدومره لږ احسان کړی و!!
دواړه د تنارهٔ پر خوا ور رواني شوې، د فرشتې پېکي ټالۍ خوړلې...
عليمردان برنډې ته وروکتل، د ګلروپۍ شا وه.
د نظر ټول ازل او ابد يې پر فرشتې ور خښ کړ، بې واکه شو، څرخه يې کېښوده، ورو يې وويل:

- زهٔ لاړم، لهٔ هغې نجلۍ شرم دی.

نصرالله د نيوکې پهٔ بڼه وويل:

- نه! تار مې انجرېږي، کهٔ نهٔ يې تاووې، ژر لاړ شه، پهٔ رويا او فرشتې يې تاووم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان شاته وکتل، رویا او فرشته د تنارهٔ تر خوا ولاړې وې.
چرخه يې بيا ور واخيسته، تار يې تاواوهٔ، لهٔ شا يې مسته او ژوندۍ خندا واورېده، څرخه يې پر ځمکه کېښوده، ګړندي ګامونه يې واخيستل، حجرې ته ورغی، پر کټ يې ځان ور خطا کړ، تېزه - تېزه ساه يې اخيسته، پهٔ ځان يې واک نهٔ و.

پورته يې کتل... پر اړخ شو، لهٔ کوره د فرشتې اواز راغی:

- خبر دی زهٔ يې را کوځوم، کهٔ را نه ونښته، نغد تاوان يې واخله!

نصرالله په انتقاد وويل:

- تا دغسې ډېر تاوانونه را کړي دي، هغه بل ځل دې بال هم ورک کړ!!

فرشتې وخندل.

اه! زما تاوان پهٔ چا دی؟ زما انجام څهٔ او د څهٔ دی؟ سترګې يې ډکې شوې... لکه د علیمردان زړهٔ، چې بادیوه وي، پر هوا شوی وي، فرشته يې باید را ښکته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوړ اسویلی یې وکیښ، پورته شو، بره یې وکتل، بادیوه پهٔ را ټیټېدو وه. ورو ګامونه یې واخیستل، تر حجرې کور ته وتې دروازه یې نیمکښه کړه، دننه یې وکتل، ګل روپۍ نهٔ ښکارېده، فرشتې پورته کتل، د بادیوې تار ته یې لاس ور واچاوهٔ، نصرالله ټنډه تروه کړه، فرشتې بادیوه را ښکته کوله... نصرالله ښکته شو، ځرخه یې ورپورته کړه، تار یې تاواوهٔ.

رویا ورغله، تر خوا یې ودرېده، خولهٔ یې وښورېده، فرشتې د حجرې خوا ته وکتل، نصرالله ته وغږېده، تار یې ورکړ، علیمردان دروازه پورې کړه، د حجرې لهٔ انګړه کوټې ته ننوت، پرېووت، چورتونو پهٔ مخه کړ...لکه لاهو شوی مړی، هېڅ خبر نهٔ و، چې مزل تر کومه او منزل چېرته دی!!

د کلا دروازه بې درېغه خلاصه شوه، (درب) یې شو، پهٔ دېوال ولګېده، لړزېدلې پورې شوه. نصرالله ورننوت، پیسې یې ورته ونیوې، دواړه پهٔ سودا پسې بازار ته ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

پنځه برېتور سړي سګرټ کنکشن کړ، لوګی یې پورته کړ، یؤ تور وچ سړی ورمخکې شو، پر مېز یې د شیدو چای کېښود، پر اوږه پرته لته یې سمه کړه، شاته غلی ودرېد. دروازه ورو را خلاصه شوه، یوې دنګې نجلۍ برېتور سړي ته وکتل، هغه اشاره وکړه، نجلۍ ورننوته، پر چوکۍ کېناسته پښه یې پر بله واړوله، غټ ـ غټ ورنونه یې ښهٔ ترا ښکاره شؤل. نجلۍ پهٔ څنګ وکتل، تور سړی ولاړ و، برېتور اشاره وکړه، هغه ووت.
نجلۍ پهٔ ادب ور وړاندې شوه، دوسیه یې خلاصه کړه، برېتور څهٔ ولوستل، نجلۍ غلې وه، برېتور وویل:

- ستړی یم!

نجلۍ مسکۍ شوه، ورجګه شوه، څهٔ یې وویل، برېتو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ورغړ کړه!

نجلۍ روانه شوه، برېتور يې بدن ته کتل، د سګرټ ايره يې وڅنډله.

نجلۍ را ننوته، شاته يې سپينکی هلک ولاړ و، درې سره پر چوکۍ کېناستل. سپينکي هلک درې عکسونه پر مېز کېښودل، نجلۍ پورته شوه، عکسونه يې برېتور ته ورکړل، هغه مخ ته ونيول، دوه عکسونه يې څنګ ته کړ، په نا رضايتۍ يې وويل:

- د دوی عمر ډېر دی، تېرېږه ترې!

سپينکی هلک منتظر و، هغه درېيم عکس هم وکوت، پر مېز يې کېښود، سوړ شوی چای يې غوړپ کړ، سپينې سکرترې او هلک د برېتور سړې سترګو ته کتل...
سپينکی هلک غلی ناست و، برېتو پر مېز ايښې بټنه زور کړه، وچ سړی را ننوت، برېتو څوک را وغوښتل، شېبه وروسته دوه سپينې چپنې پر غاړه ډاکټران را ننوتل، برېتو عکسونه ورکړل، خبره وشوې، ډاکټران ووتل. سکرتره ناسته وه، هلک ورته په سترګو کې اشاره وکړه، سکرترې د برېتور مخ ته وکتل، ورو يې وويل:

- د کارما (سپينکي هلک) د وروستي مېشن پيسې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر سر وښوراوهٔ، غوږی یې ورپورته کړه، وغږېد. شیبه وروسته یو بل برېتو را ننوت، توره کڅوړه یې پهٔ لاس کې وه، سپینکي هلک ته یې ونیوله، هغه ورواخیسته، سر یې ټیټ واچاوهٔ. برېتور، بل برېتور او سپینکی هلک رخصت کړل.
سپینکي هلک خفیفه رېږدېدا محسوسوله، د کڅوړې خولهٔ یې خلاصه کړه، پهٔ دهلیز کې چټک روان شو، درېیم منزل ته ښکته شو، د یوې کوټې غټې شیشې ته تم شو، د سپین چپنو شا وه، پهٔ څهٔ بوخت وو.
دویم منزل ته ښکته شو، وسله وال سړی برگ ناست و، دی یؤ اړخ ته پهٔ څوکۍ کېناست، کڅوړه یې خلاصه کړه، پیسې یې وشمېرلې، دوه نیم لکه پوره وې، شپږ لوټونه یې بېل کړل، د وتو پهٔ وخت کې یې برگ سترگي سړي ته ونیول، هغه مسکی شو او وغوړېد.

دی پهٔ زینو ښکته شو. څوکېدار پرې چغه کړه، دی ځای پر ځای سرېښ ودرېد، پورته یې وکتل، پهٔ زینو کې ورټوغ سړي پورته وغوښت.
ورروخوت، سکرتره ولاړه وه، ارایش یې خراب شوی و، ویښته یې جږ وو. د دهٔ مخ ته یې عکس ونیوهٔ، عکس والا د مشر لهٔ خوا تایید شوی و. دی مسکی شو، خو پهٔ عین وخت کې نا ارامه هم شو، گران کار ور لهٔ غاړې شوی و. سکرترې عکس پهٔ دوسیه کې کېښود، دی یې رخصت کړ.
کارما (سپینکی هلک) د اول منزل تشنات ته ورننوت، لږ اوبهٔ یې خوشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې، کڅوړه یې پرانیسته، پیسې یې په زېرپیراهني او نېکر کې پټې کړې. بیا یې اوبه خوشې کړې، غاړه یې تازه کړه، چټک گامونه یې واخیستل، په سپینه کاشي یې د څپلیو خاپونه پاتې شؤل، بېرته تاو شو، قدمونه یې وران کړل، په بېرته راوتو کې یې څنبېدلي قدمونه واخیستل، سپینه کاشي خړه شوه، شاته یې وکتل، په بیړه ووت.
د مخې پر جېب یې لاس وتپاوه، لړ یې سره بېرته کړ، سر یې ور ټوغ کړ، درې زرگوني یې په کې ورشمېرل.
یؤ ټوپک په لاس سړی ورپورته شو، دروازه یې خلاصه کړه، سپینکی هلک شېبړ تعمیره مخکې ودرېد، ژېړ موټر راښکاره شو، لاس یې ورکړ، په بیه کې سره جوړ شؤل، په کې سپور شو، ډرایور سندره لگولې وه، خوند یې ور نهٔ کړ، باطني نا ارامي یې محسوسوله، دروند اسوېلی یې وکړ، تر بورډ بازاره دواړه غلي وو...
فېز تري چوک ته ورسېدل، د خوړ بوی خوت، سپینکي هلک جېب ته لاس کړ، ډرایور ته یې پیسې ورکړې، ښکته شو، څو گامه پیاده لاړ، په ټکسي پسې یې کتل، پناه شوه.
سرک ته یې کتل، د رکشې ټراری رانژدې کېده، لاس یې ورکړ، کرایه یې سره و نهٔ ویله، لړ مخکې د ناصرباغ روډ په سر ښکته شو.
پر ربړه ډک- ډک امونه ایښي وو، ښهٔ ورته وایسېدل، ورتاؤ شو، یوه دړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې وتلل، خلطهٔ يې پر کراچۍ پرېښوده، څو گامه لاړ، پهٔ تارينه پنجره کې سپين کرکره يي چرگان بې دمې ولاړ و، تيگا يې وهله... بيه يې وويله، قصاب چرگه حلاله کړه، پهٔ پلاستيک کې يې واچؤله، اولې رېړۍ ته ورغی، د امونو خلطهٔ يې ورپورته کړه، پورې غاړه ريکشې ولاړې وې، وروخوت، شېبه وروسته د تنگې کوڅې پهٔ سر کې ښکته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

نصرالله او رویا کټ پورته کړ، د انګړ منځ کې یې کېښود، ډنډه یې پکی یې چالان کړ، ګل روپۍ برنډه کې ناسته وه، جاینماز خور و، پورته شوه، کات یې کړ، تسبې یې غاړې ته واچولې، انګړ ته ورغله، پر کټ کېناسته، پورته لاچي ګانو ته یې کتل.

رویا روانه وه، ښوربدن یې ښوربېدهٔ، توره خلته یې پهٔ لاس کړه، پر نغري ایښې چاې جوشه یې ور پورته کړه، وړه ارمونه یې چاېنکه یې ډکه کړه، پخلنځي ته روانه شوه.

نصرالله لمونځ وکړ، لهٔ کوټې را ووت، برنډې ته پهٔ ولاړه ستنه کې غټ مېخ ټک وهل شوی و، ټوپ یې کړل، خولۍ یې پهٔ کې بنده کړه. ترموز ته یې وکتل، ورغی، ګیلاس یې ډک کړ، واړهٔ ډېران ته یې کتل... ورغی، یؤ موټی خاوره یې پورته کړه، مخې ته یې ونیوله، ځمکې ته یې خوشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، درنده خاوره پر ځمکه پرېوته، نری هغه باد یوړه، د شمال لوری یې مالوم کړ. رویا په بیړه ورغله، څورب بدن یې ښورېدۀ، نصرالله منډه کړه، د مور شا ته پټ شو، رویا په انتقاد وویل:

- نۀ د جارو ډکی پریږدې او نه درنه ځای پاک پاتې کېږي!!

گل روپۍ وویل:

- خېر دی، لۀ باندې وتو ورته ښه ده، ماشوم دی.

رویا تاؤ شوه، وړوکی لرگین مېز یې راووړ، د مور مخې ته یې کېښود. تر برنډې لاړه په پتنوس کې یې پیالې کېښودې. ټیټه شوه پتنوس یې پر مېز کېښود، پیالې یې ډکې کړې.

گل روپۍ، نصرالله ته مخ کړ: (حجرې ته ورشه، کۀ علیمردان ویښ وي، چای ته یې را وله.)

نصرالله منډه کړه... دروازه په گړب خلاصه شوه، علیمردان ټوپ کړل، بهر یې وکتل. نصرالله په لوړ غږ وویل:

- ادې مې دې غواړي!

نصرالله په منډه ووت، کور ته وتې دروازې گړب کړل، مور یې ور وکتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وینښ و؟

- هو.

علیمردان رانغی.

رویا یې مور ته وویل:

- نور چای به وکړم، هملته دې یې ور وړي!

نصرالله پهٔ پیاله کې کاشوغه وهله، گل روپۍ مخ ور واړاوهٔ:

- ورشه ورته ووایه، چې مور مې درسره کار لري.

نصرالله منډه کړه، د حجرې د دروازې گړب شو، علیمردان پر کټ ناست و، بام ته یې کتل. نصرالله وویل:

- د مور مې درسره کار دی.

علیمردان څپلکې پر پښو کړې. نصرالله دروازه خلاصه ونیوله، علمیردان ووت، نصرالله ورپسې په چیندرو ټوپکې وهلې.

رویا ورو وویل:

- بوره درته واچوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليمردان غلي وويل:

- نه!

ترور يې وويل:

- پهٔ خپل کور کې څوک ست نهٔ کوي.

ځرېدلی سر ناست و، ويې ويل:

- گرمي ده، چای مې زړهٔ ته نهٔ کېږي.

رويا جگه شوه، مېز يې وڅښاوهٔ، پهٔ منځ کې يې کېښود، غبرگې پيالې يې پرې کېښودې.

د کټ د کشولو غږ شو، څنگ ته يې وکتل، رويا لرې کټ واچاوهٔ، پرې کېناسته، عليمردان ځرېدلی سر ناست و، گل روپۍ وپوښت:

- کهٔ ډېر ناروغه يې، چې ډاکټر ته دې ورولي؟

- نه تروري، فشار مې ښکته و، بهر ووتم، پيپسي کې مې مالگه واچوله، اوس ښهٔ يم.

نصرالله غږ وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- همداسې يوازې يې څښبه!

عليمردان رويا ته ور وکتل، هغې نصرالله ته وکتل، ويې خندل، دهٔ سر ښکته واچاوهٔ. دروازه وټکېده، نصرالله ورغی. پهٔ منډه راغی. مور ته يې کړل:

- ببو ده، وايي، د دينکي مور مړه شوې، کهٔ ورځې؟

گل روپۍ افسوس وکړ، اسويلی يې وکړ، رويا ته يې د غټ ټيکري وويل، هغه پورته شوه، چټکه روانه شوه،کوټې ته ننوته، شيبه وروسته را ووته، مور ته يې سپين ټيکری ونيوه، هغې څپلکې پر پښو کړې، ټيکری يې پر سر کړ، روانه شوه.
نصرالله پورته شو، باديوه يې را واخيسته، رويا هېڅ و نهٔ ويل، پورته شوه، چای جوشه يې ور پورته کړه، پياله يې ور ډکوله، عليمردان انکار وکړ، رويا پر مخامخ کټ کېناسته.
عليمردان پورته وکتل، رويا ورته ځير وه، بېرته يې سترگې ښکته کړې، شيبه وروسته يې بيا ور وکتل، هغې ورکتل... شاته يې وکتل، نصرالله د باديوې تار بندي کوله، بېرته يې رويا ته وکتل، هغه موسکۍ شوه، په خوند يې وويل:

- يوه خبره وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړهٔ يې دربېدهٔ، ورو يې وويل:

- هو!

- فرشتې ته دې بل رقم کتل.

وار خطا شو، پهٔ بيړه يې وويل:

- نه، داسې نهٔ وه، هغې ته مې نهٔ کتل، لهٔ پرونه پهٔ فکر کې وم، چې دا شک به کوې. هېڅوک بايد خبر نهٔ شي، بده ده.

- هو! د ويلو خبره نهٔ ده. فرشته ډېره ښه نجلۍ ده. څو شپې نورې کوې؟

- مالومه نهٔ ده، کهٔ نن کويلونه جوړ شول، سبا ځو.

- هغې خو ځکه بيړه لرله، يوه خبره مې يې راوړې ده.

عليمردان بيړې واخيست، په تلوسه يې وويل:

- څهٔ يې درته ويلي؟

رويا پهٔ ناز وويل:

- پهٔ خولهٔ مې ولاکه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليمردان لاړې تېرې کړې، خولۀ يې وچه شوه، اوبۀ يې وغوښتې، رويا پورته شوه، خرامانه روانه شوه، پر ترموز نسکور ګيلاس يې ور واخيست، کنګال يې کړ، د ترموز نلکې ته يې ونيوۀ.
ګيلاس يې ور وړاندې کړ، هغۀ واخيست، اوبۀ يې وڅښلې، رويا ور کتل، د عليمردان زړۀ دربېدۀ، بې قراره و، پۀ وارخطايۍ يې وويل:

- ګوره، چې څوک خبر نۀ شي!!

- نه، د فرشتې ټول رازونه راسره دي. ملګرې مې ده.

- نور يې څۀ ويل؟

- څۀ کار کوي، څنګه راغلی دی، څۀ مو کېږي، کله ځي...؟

عليمردان بې اختياره وويل:

- زما صفت به دې ورته کړی و!!

رويا مسکۍ شوه:

- و مې کړ، ويل يې د صفت لايق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېفیت یې بدل شو، زړهٔ یې دربا پېل کړه، اول ځل داسې شوی و، سترګې یې اوښلنې شوې، په تلوار یې وویل:

- ورته و دې نهٔ ویل، چې اخر به څهٔ کېږي؟

رویا د دروازې پر لور وکتل، نصرالله یې وخاره، ورو یې وویل:

- نهٔ پوهېږم، خو عکس دې یې غوښت.

نا لیدلی جهان یې محسوساوهٔ، حالت نوی و، خو عشق لکه د ازل کاڼی، په روغ سر یې راپرېوتی و.

په بیړه پورته شو، ویې ویل:

- د کویلونو مالومات نهٔ کېږي، زهٔ ځم عکس باسم، سبا یا بل سبا یې ایله را کړي.

علیمران پاک کالي وغوښتل. رویا پورته شوه، شېبه وروسته مسکۍ خولهٔ ولاړه وه. هغهٔ خلطهٔ ور واخیسته، خوشاله و، پورته شو، څپلۍ یې پهٔ پښو کړې، روان شو، د کلا پرده یې پورته کړه، دروازه یې ټېله کړه، پهٔ بیړه ووت، تر کوڅې تېر شو، سګرټ یې بل کړ، روان و... عکاسخانې ته ور تاو شو، هغوی ویل، ریل یې تش دی، ممکن پنځهٔ ورځې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکس ورکړي. ووت، روان شو، پر عمومي سړک ودرېد، رنګه او پر ګلانو ډکه ډبه راغله، کیلینډر د صدر نارې وهلې، ور پورته شو. شېبه وروسته کیلینډر غږ وکړ، ګڼ خلک ښکته شول. مخکې لاړ، ګڼ دوکانونه یې وکتل، یوهٔ دوکاندار ماښام وعده ورکړه، ننوت، خونې ته ورغی، ایینې ته مخامخ شو، بړمنځ یې ور واخیسته، څو کورتۍ یې لرې - برې کړې، یوه یې واغوسته، نارې یې کړې، عکاس ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

د ماښام اذانونه شوي وو. علیمردان د حجرې دروازه ټک- ټک کړه، پاچا ور ووت، په حیرانتیا یې وپوښت:

- چیرته ورک وې، ډېره اندېښنه مو دې وکړه.

پهٔ پلاستیکي خلطه کې یې دوه پاکټه ګولۍ او یو شربت اچولي وو، پهٔ انګړ کې ودرېد، پاچا وپوښت:

- لکه چې ډېر ناروغ وې؟

علیمردان پهٔ زړهٔ غل و، ځان یې بدل کړ، مړاوې یې وویل:

- هو، ډاکټر ویل فشار دې ټیټ دی.

حجرې ته ننوت، شېرباز و شېرمامد خفه وو، شېرمامد پهٔ خفګان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کهٔ ډېر ناجوړه يې، چې غم دې وخورو!!

- اوس بيخي ښهٔ يم، سيروم مې وکړ، بېخي يې راژوندی کړم. کارونه څنګه شول؟

- په مستري ډېر رش دی، څو ورځې اخلي. وار خطا کېږه مهٔ، چې کار خلاص شو، يوه ورځ چکر او بله ورځ سروبی!

زړهٔ يې ورېږدېد، کاش د جهان احاطه او محدوده همدومره وای، پهٔ څومره کې چې د فرشتې ديدن هره ورځ ممکن کېدای!!
کاش زمانه ودرېدای، کاش بل هېڅ ځای نهٔ وای، چې عليمردان ورغلی وای!!

ترپ شو، پاچا د غولي پر منځ دسترخوان خطا کړ. پهٔ مسکا يې وويل:

- تياره ده!

نصرالله اوبهٔ واچولې، عليمردان پهٔ څنګ شو، پر بغل جېب يې لاس وتپاوهٔ، پلتۍ يې ووهله، د دسترخوان څنډه يې ور هواروله، وېرې اخيستی و، سل و زر فکرونه ور لوېدل، زړهٔ نا زړهٔ يې ډوډۍ وخوړه.
انګړ ته ووتل، پر کټونو يې ډډې واچولې. پاچا انجړه ساکته سپخوله، د کټ تر څنګ مېز باندې يې کېښوده، کور ته ننوت. شېرباز و شېرمامد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستري کيسې کولې، عليمردان په زړه غل و، چتې - چتې غږېده...
د حجرې د دروازې ګړب شو. ټولو ور وکتل، پاچا باډي چوبي ټايپ په
لاس ورننوت، د کټ لنګې ته کېناست، د ټېپ سويچ يې په ساکته کې
ورکړ. د واسکاټه پړسېدلي جېب ته يې لاس ور دننه کړ، يو بنډل پيتې يې
ور وويستې، و يې کتلې، يوه يې پر لاس وټپوله، ټيپ ته يې ور واچوله. د
سردار علي ټکر غږ پورته شو:
((که په مينه کې حېران دی، نه دی ګرم
د اسمان ځمکې تر ميان دی، نه دی ګرم
که سينه وهي، که سر، که ژاړي وينې
چې خوږ شوی په هجران دی، نه دی ګرم
که حميد د زنخدان له غمه ژاړي
په کوهي کې اوېزان دی، نه دی ګرم))

ټول متوجه ناست وو. عليمردان سندرې ورسره واخيست...
د اذان غږ شو، پاچا ټېپ ګل کړ. له کوره شغهاری راته، رويا تور ديګي
ته شګې نيولې وې... اذان ختم شو، له نژدې کوره د فلم غږ پورته شو، وي
سي آر يې راوړی و.
يوولس بجې شوې، شېرباز تکيه وهلې وه، پاچا ور وکتل، سر يې پر لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکیه کړی و، خوب زنګاوهٔ... پر بل کټ شېرمامد او علیمردان ناست وو، پاچا پورته شو، کوټې ته ننوت، ځای یې سم کړ، شېرباز و شېرمامد ننوتل، علیمردان کټ ته وکتل، ویې ښناوهٔ، سم یې کړ، توشکه یې خوره کړه، د کلا ګروپ یې ګل کړ. شنهٔ اسمان ته یې کتل...

د پاچا مېرمن د پلاره لهٔ کوره راغلې وه، لهٔ هرېپوره یې وړوکی ورور ورسره راوستی و، د نصرالله تر خوا یې ورته کټ اچولی و، سرونه یې سره نژدې کړي وو، ورو - ورو پسنېدل، کیسې یې کؤلې.

علیمردان سګرټ لګولی و، خوب کډه کړې وه، لهٔ کټه پورته شو، تشناب ته ننوت، ګروپ یې ولګاوهٔ، لاس یې رېوند کړ، سات ته یې وکتل، یوه بجه وه، مخ ته یې اوبهٔ واچولې، ځړېدلی سر ناست و، لهٔ مخه یې څاڅکي څڅېدل، څهٔ پهٔ زړهٔ ور وګرځېدل، بهر ووت. کور ته وتې دروازې ته ور نژدې شو، ودرېد، پورته بامونه یې وڅارل، د دروازې ترک ته یې سترګه برابره کړه، دننه خوا پرده پورته وه، درې کټونه ښکارېدل، ځمکني ډنډه یې پکې غورس کاوهٔ، یو خوا - بل خوا یې مخ اړاوهٔ.

د دېوال سر ته یې لاس کړ، پرده یې پورې وهله، هاخوا پرېوته، لیکې-لیکې انګړ پناه شو.

کټ ته ورغی، پرېوت، اسمان ته یې کتل... اه! دا څهٔ ورک او نا محسوس جهان دی!! سترګې یې سره ورغلې، ویدهٔ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار پهٔ خړه پاڅېد، مخ ته یې اوبهٔ واچؤلې، خولهٔ یې کنګال کړه، سګرټ یې بل کړ، شېرباز و شېرمامد تلویزیون لګولی و. پاچا ورننوت. دوی چای څښهٔ، علیمردان کور ته ننوت، ښي لور ته یې وکتل، رویا نغري ته ناسته وه. کوټې یې وڅارلې، برنډې ته ورغی، پر ترموز ایښی ګیلاس یې ورپورته کړ، اوبهٔ تودې وې. رویا د څنګ کوټې ته ننوته. دهٔ ته یې کتل، دهٔ شاته وکتل، څوک نهٔ وو، رویا مسکۍ شوه، علیمردان جېب ته لاس کړ، تور پاکټ یې وروویست، پورته شو، شاوخوا یې وڅارله، پاکټ یې کوټې ته ور وار کړ، سر یې کښته واچاوهٔ، حجرې ته ورغی.
پهٔ کوڅهٔ کې د پاچا ریکشه ټربده، درې سره ور ووتل، پهٔ کې سپارهٔ شؤل، پاچا پیته ور اچولې وه، د سندرې غږ خوت...

...علیمردان پیسې شمېرلې، غلط شو، لهٔ سره یې کړې، بیا غلط شو، شمېرلې پیسې یې شېرباز ته ونیولې، د دهٔ پهٔ حساب پوره وې.
څلور زره کلدارې پاتې شوې، شېرباز جېب ته کړې، شېرمامد موسکی شو، علیمردان ځړېدلی سر ولاړ و.
مسترې کویلونه ازمېیلي وو، خپله ستاینه یې کوله... شاګرد یې دوکان ته ننوت، لهٔ کارتونو سره را ووت، استاد ته یې ونیول، هغهٔ مازې نیم کړل، پر ټولو یې وویشل. کویلونه یې د پاچا رکشې ته ور پورته کړل، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروختل، پاچا د ریکشې انډل وواهۀ، حرکت یې وکړ...
د نمک منډۍ یوۀ هوټل ته یې ریکشه ورو کړه، یؤ غوړ هلک ولاړ و، خلک یې وربلل، دوی ورتاؤ شؤل، د دروازې مخ ته ابدانونه ایښي وو، مخ ته برابرو شیشو کې خلک ښکارېدل. دوی ورغلل، نلکې یې سستې کړې. علیمردان خیرن صابون ورپورته کړ، لاسونه یې ومینځل، پاچا د دستمال پۀ پیښکه خولۀ پاکه کړه، د هوټلي شاګرد ته یې وویل:

- ریکشې ته درسره خیال کوه!

هغه پر سینه لاس کېښود، پۀ درناوي یې وویل:

- بې غمه شۀ جي!

ننوتل، پر تخت فرش غوړېدلی و، خلکو مړۍ وهلې، چتې پکې تود لګېدۀ... څلوېښت دقیقې ووتې، د هوټل شاګرد پۀ منډه ورغی، پر غوړېدلي دسترخوان یې چکني او توده ډوډۍ کېښوده، پۀ بیړه لاړ. تر مخ یې د لوخو ټیکلی کېښود، ګرمه کړایي پرې کېښودل شوه، تېونه ترې ختل...
اضافه ډوډۍ یې وروغوښته، علیمردان مازې رومیان ور پورته کول...
شاته شو، پاچا وپوښت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ولې؟

- ترخه ده، معده مې ژوبله ده.

- نیمه کیلو بې مرچو کړایي به راوړي؟

- نه، موړ شوم.

شېرباز خولهٔ خوځوّله، پهٔ ډکه خولهٔ یې وویل:

- پهٔ تا باندې خدای نهٔ ده خوږلې، دا ځل دربانديې پېښور ښهٔ و نهٔ لګېد.

علیمردان د زړهٔ پهٔ زور وخندل.
شېرمامد مړې جوړه کړه، د کړایي غوړ یې ور پاک کړل، پاچا اشاره وکړه، شاګرد ورغی، شېبه وروسته څلور شیشه یي بوتلونه پر تخت کېښودل شوّل. پیپسي یې وڅښله. شېرباز پورته شو، بهر ووت، لاسونه یې ومینځل، ریکشې ته یې وکتل، بېرته ننوت، پر تخت چاغ سړی ناست و، ده پوښتنه وکړه، هغه ست و سلا وکړه، دهٔ جېب ته لاس کړ، پیسې یې ورکړې. بېرته ورغی، پر تخت کېناست.

پاچا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څهٔ کوو؟

شېرمامد پهٔ خولهٔ کې ډکی واههٔ، ویې ویل:

- یا الله!

پاچا مخکې شو، پر جیب یې لاس تپاوهٔ، شېرباز غږ وکړ:

- پیسې مې ورکړي.

پاچا سر وخوځاوهٔ، نا رضایتي یې ښکاره کړه.
لهٔ هوټله ووتل، بهر یې لاسونه ومینځل. د هوټلي شاګرد د ریکشې پر شیشه ساپي وهله...
پاچا ریکشې ته وروخوت، انډل یې وواههٔ، هغوی شاته کېناستل، شېرباز منځ کې و، تر کوپلونو یې پښې ور تاو کړې وې. ریکشې حرکت وکړ. دوی د پېښور وروستۍ تماشې کولې...
د ګڼو موټرو تر منځ تېر شول، د ګرمۍ شدت مات و، خلک را وتي وو، د بورډ تر زېرزمینۍ ور تېر شول، شېرباز ټوکې کولې، نورو خندل...
پهٔ چارمارو وروااوښتل پهٔ جمروډ روډ تؤده هوا لګېده، حیات اباد چوک کې ډبې ولاړې وې. چپ خوا ته ور وګرځېدل، پخې بنګلې روانې ښکارېدې، ریکشه یې تاؤ کړه، پهٔ تمځای کې یې ودروله، شپږ روپۍ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړې، پرچه یې واخیسته، کویلونه یې پرې وسپارل. شېرباز ولاړ و، کاغذونه یې په لاس کې و، یو- یو یې تقسیم کړ، دروازې ته سیخ شول، ټیکټونه یې ورکړل، شین چمن او پراخه ساحه ښکاره شوه.

ګڼه وه، یو ژېړ سرى هلک ولاړ و، د یخو اوبو نارې یې وهلې. شېرباز و شېر مامد لر او بر کتل، علیمردان ځړېدلی سر روان و، پاچا یوه خوا لاس ونیو، ګڼ سیوری و، ټول کېناستل.

پاچا جګ شو، د شا لمن یې وڅنډله، مخامخ پر څوکیو خلک ناست وو، ایسکریم یې څاټه. شېرباز و شېرمامد په ښځو پسې کتل...

علیمردان خفه و، د جدایۍ له غمه په ځان را تاو و، هر احساس بربادول کول. د پاچا تر شا یو هلک را روان و، دوه ایسکریمونه له ده سره او دوه له هلک سره وو، و یې وېشل، شېبه وروسته یې کوټې چمن ته ور وار کړل.

څادرونه یې ویړ کړل، لمونځ وشو. علیمردان له خدایه هېڅ نه غوښتل، هغه بل رنګ حېران و، هغه ځان ته په ځان حېران و...

پاچا څادر ټک واهه، مخامخ ګروپونو یې سترګې یوړې، دوی ته یې وکتل، ورو یې وویل:

- نور یې خوند لاړ!

شېرباز وکتل، ښځې په نظر ور نغلې، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- درځئ!

پر چمن څلور سیوري روان وو، تر عمومي دروازې تېر شؤل، چپ لاس ته تاو شول، پاچا ریکشه شاته دیکه کړه، لارې ته یې برابره کړه، ور وخوت، انډل یې وواهۀ، دوی ور وختل، رکشې حرکت وکړ، د سرک گروپونو اسمان تت کړی و.
ریکشه د بورډ تر بازار تېره شوه، فرعي بازار راغی، پاچا کوز شو، دوکان ته ور ننوت، بېرته راووت، خلطۀ یې پۀ لاس کې وه، ریکشې ته ور وخوت، خلطۀ یې د ریکشې تر هنډل لاندې پۀ کوټي ځای کې کېښوده، رکشې حرکت وکړ، ژیړ گروپونه تېرېدل...
پۀ تنگه کوڅه ور ننوتل، ریکشه یې ودروله، کویلونه پۀ لاس خلک حجرې ته ننوتل.
پاچا کور ته ننوت، خلطۀ یې کېښوده، د اوبو ترموز یې ورسره واخیست، حجرې ته ورغی، ترموز یې پر وړوکي کټکي کېښود. د مسترې پۀ کار مجلس روان و... دروازه و ټکېده، پاچا لوړ غږ وکړ((راځه خلاصه ده!))
دروازه ورو خلاصه شوه، پټنوس ښکاره شو، هلک سر ځنگ ته کړ، پرده یې پورې وهله، دروازه یې پر پښه ور پورې کړه، سپینکي هلک پټنوس کېښود، سره هندوانه قاش – قاش ایښې وه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پهٔ تلويزيون کې ډرامه لګېدلې وه. ټول متوجه ناست وو، سپينکي هلک سلسله وشکؤله، پهٔ لوړ غږ يې وويل:

- مېلمانهٔ خو به خفه شوي نهٔ وي؟

پاچا دوی ته ور وکتل.

شېرباز وګونېد، شېرمامد پهٔ لوړ غږ وويل:

- نه! پېښور ډېر ژوندی وطن دی، ډېر خوند يې راکړ.

سپينکي هلک وويل:

- سوات ډېر يخ وطن دی، کهٔ وخت لرئ، چې ور چکر مو کړم؟

عليمردان، شېرباز او شېرمامد تر نظر تېر کړل، هغوی نټه وکړه.

سپينکی هلک پورته شو، سر يې وخوځاوهٔ، ورو يې وويل((بېرته راځم)) مجلس پهٔ باغ ناران و. شېبه وروسته پرده پورته شوه، سپينکي هلک پنځهٔ بوتله راوړل. جېب ته يې لاس کړ، ناخنګير يې وروويست، د بوتلونو سرونه يې خلاص کړل. شاته شو، ډډه يې واچؤله، پهٔ خوند يې وويل((د مېلمنو مې دې قدر و نهٔ کړ، بند وم. دوبۍ ته مو شات لېږلي وو، دوه نيم لکه ګټه ايله راورسيده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی پهٔ حېرانتیا ورکتل... سپینکی هلک پهٔ علیمردان ښهٔ لګېده، څنګ کې یې ناست و. هغهٔ سر ټیټ اچولی و، دهٔ یې څټ ته وکتل، لړ رالاندې ترې د وینو څاڅکي ښکارېدل، ووېرېد، فکر یې لهٔ مجلسه بله خوا لاړ، سګرټ یې بل کړ، لکه پهٔ لوګي یې چې سپور وي او خور  وور روان وي!!

سپینکي هلک لاس وراوږد کړ، علیمردان ټکان وخوړ، ټولو وخندل، سګرټ یې لهٔ خولې لرې کړ، د هلک خورو ګوتو ته یې سګرټ ورووړاندې کړ، هغه ترې څو کشه ؤکړل، خطا یې کړ. سپینکی هلک د دوی پهٔ تګ ډېر خفه و. جګ شو اجازه یې وغوښته، پټنوس یې ورسره واخیست، پاچا ور جګ شو، د کلا دروازه یې بنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم څپرکی

تیارهٔ سهر و، غوټې سره سمېدې... پاچا د رکشې شیشې ته ساپي نیولې وه، علیمردان ننوت، ترور یې ولیده، رویا خفه وه، خلطه یې ور وړاندې کړه، دواړه سترګې یې کېکاږلې، ویې ویل:

- خوشبو رخت دی، ګلالۍ ته یې ورکړه.

علیمردان پهٔ بېړه خلطه ور واخیسته، خدای پهٔ اماني یې وکړه، ګل روپۍ پر دواړه مخه ښکل کړ، مخ یې لوند شو، دهٔ یې پر مخ ایښي لاسونه ښکل کړل، پهٔ نهٔ زړهٔ روان شو...
د فرشتې د کور دروازه چوله وه، علیمردان پښه نیولی شو، ځیر شو، اه! فرشته وروستي دیدن ته ولاړه وه، څهٔ رقم حالت و؟ حالت و، لکه جنت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دوزخ چې سره ګډ شوي وي.
پاچا ریکشې ته کېناست، اندړل یې وواهۀ، دی ورتېز شو، قدمونه یې دراندۀ وو، ور وخوت، ریکشه د کوڅې سر کې وګرځېده. پاچا وویل((خدای دې وکړي، چې خفه شوي به نۀ یاست؟))

ټولو نا او نو وکړل. ریکشه جمروډ روډ ته سیخه شوه، هوا یخه لګېده، ټولو بهر کتل... شېبه وروسته تر چهارمارو او نمبر چهار ورتېر شول. ګڼه ګوڼه وه د حیات اباد چوک د تهاڼې مخ ته دوه پولیس ولاړ وو.
پاچا ریکشه تاؤ کړه، کتار فلاینکوچونه ولاړ و. کویلونه یې یوې خوا ته ښکته کړل. دوی یوۀ اړخ ته ودرېدل. پاچا لۀ کیلینډر سره وغږېد، اشاره یې وکړه، کویلونه یې ور وړل، د فلایکونچ سر ته یې ور جګ کړل. پاچا ټولو ته ور غاړې ووت، ریکشه یې تاؤ کړه، شېبه وروسته پناه شو.
سورلۍ منتظرې وې... کیلینډر یو سړی تر مټ نیولی و، و یې خېژاوۀ، موټر حرکت وکړ، پۀ بیړه لۀ هډې ووت، دوړې باد- راباد شوه.
علیمردان وښورېد، د رویا ورکړې، خلطۀ یې تر چپ کوناټي لاندې کېښوده. کیلینډر د دعا غږ وکړ، ټولو خولې وخوځؤلې، موټروان د موټر د منځ پۀ شیشه کې وکتل، شاته سورلۍ یې وڅارله، پیټه یې ور واچوله، د سندرې غږ خوت... علیمردان یې ډوب کړ، داسې، لکه پۀ دنیا کې چې همدا یؤ حالت وي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم څپرکی

ژیړ مازیګر و، لمر په خپلو وینو کې غرک و، ګڼ خلک تر ترانسفرمر خونې را تاو وو، کویلونه یې لګؤل.
زرین د پښو په سر ناست و، پرتوګاښ یې زنګېدهٔ، شېرباز ته یې مخ کړ:

- چکر مو وواههٔ؟

شېرباز موسکی شو، په غاښ کې یې ډکی واههٔ، په بې تفاوتۍ یې وویل:

- څهٔ مزې مو وکړې، ګرمۍ پاخهٔ کړو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو تاکيد کاوۀ، چې د برېښنا لګښت دې کم شي. ماښام تيارۀ مهال هر څۀ برابر شول، دعا يې پرې وکړه، سروبی روښانه شو. ټول کورونو ته وخوځېدل... پۀ سيند کې د تېپې ګروپونو لامبو وهله.

لومړی ماسختن، چې ډوډۍ وخوړل شوه، ډلې- ډلې هلکان د عليمردان دوی درمند ځای ته ور روان وو... شېرباز و شېرمامد پۀ خوند کيسې کولې، خلک غوږ وو، د ژېړ ګروپ مخې ته پتنګانو رپ وهل، ځمکنې ډنډه يي پکې مخ ګرځاوۀ، شېرباز د پارک کيسه شورو کړه، د نجونو د يادولو پر مهال زلمي څک شول!!

عليمردان پورته شو، چاېبر يې ور واخيسته، کور ته روان شو، يوۀ غږ وکړ((چای بس دی، دوه بجي دي، ځو به!))

شېرباز سات ته وکتل، هلکان پورته شول، څراغونه او لاسي بجلۍ روښانه شوې، ډله خلک روان شول...

عليمردان پيالې ور ټولې کړې، پورته شو، حجرې ته ننوت، پتنوس يې يوۀ کونج ته کړ، چوپتيا وه، لۀ لرې سپيو انګولل.

چتې پکې يې ولګاوۀ، درېواړو د خورو توشکو پر سر بالښتونه سم کړل، عليمردان د اوبو جک وکوت، ډک و، پورته شو، ګروپ يې مړ کړ، لاسي بتۍ يې روښانه کړه، دوه درې ګامه يې واخيستل، پرېووت.

شېرباز پسنېده، کليمې يې ويلې، عليمردان پۀ يو درياب چورتونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرک و، فرشتې ټول لهٔ ځانه سره وړی او لهٔ ځانه سره پاتې کړی و. خوب ورغی، ویده شو.

پهٔ اذان را ویښ شو، شېر باز و شېرمامد یې وخوځوَل، شېرباز سترګې سولولې... ټول پورته شول، تر درمند ځای لاندې ویاله بهیده، د شېرباز شړپا خته... شېرمامد او علیمردان کوز او بر کېناستل، اودسونه یې وکړل، د شېرباز لهٔ بړیرې اوبهٔ څڅېدې، پر څادر یې مخ وچ کړ، ویړ یې کړ، ټول پهٔ لمانځهٔ ودرېدل.

علیمردان سلام وګرځاوهٔ، لاسونه یې پورته کړل، د دعاګانو پهٔ اوَّل او اخر کې یې فرشته وغوښته.

پورته شو، د باندې ګروپ یې ګل کړ، د برجورې کلا دروازه نیم کښه وه، ننوت. مور یې پر جاینماز ناسته وه، ګلالۍ تنور اچولی و، دهٔ د چای غړ وکړ، بېرته ووت، شېرباز و شېرمامد بالښتونو ته ډډې وهلې وې، پکی ګل و، پر راډیو د طالبانو ترانه غږېده.

چوپتیا وه. شېرباز وویل:

- ډېر بې چورته او بې مزې یې!!؟

علیمردان منلې وه، چې راز شریک کړي، ویې ویل:

- کیسه بل وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېرباز و شېرمامد را ښک شول.شېرباز وویل:

- خدای دې خېر وکړي!!

- زهٔ ټول هلته پاتې شوم.

- چېرته؟

- په همغه تنگه کوڅه کې، پهٔ همغه شور کې، پهٔ همغه رڼا ماښامونو کې او پهٔ همغې فرشتې کې، چې خدای پرې کانې کړي دي!!

د شېرباز سترگې رډې شوې، په حېرانتیا یې وویل:

- فرشته څوک ده؟

- د پاچا دوی گاونډۍ ده، د هغه سپینکي هلک خور ده، لهٔ هغې پرته به مې و نهٔ شي!!

شېرمامد وویل:

- عجیبه دې وکړه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نهٔ پوهېږم، ما هېڅ نهٔ دي کړي، هر څهٔ وشول، هر څهٔ به کېږي، شايد د فنا او بقا ځای مې همدا يؤ وي.

شېرباز په زړهٔ تنګۍ وويل:

- پلسپې مهٔ وايه، ساده خبره وکړه، څهٔ کيسه ده، څهٔ وکړو؟

- نهٔ پوهېږم، لاره نهٔ ده را مالومه، بس د خدای د کرم مامله راته ښکاري.

- بندګي کوشش مقدم دی!! پهٔ کور کې يې ووايه، ورتګ ولا که سخت وي.

عليمردان پهٔ مايوسۍ وويل:

- نهٔ پوهېږم ولا، هغوی غټ خلک دي!!

اسوېلی يې وکړ، پورته شو، کور ته د برجورې کلا تر مخه ناستو غوايانو ته سړی ناست و، ور ويې کتل، پاده وان و، غوايي يې وشړل، ورپسې شو. عليمردان ننوت. شېرباز وويل: (پهٔ خدای او پهٔ قران، چې زهٔ لا هملته شکي وم!)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپي وغپل، پيشو، پر بوساړه وخته، پورته دېوال ته يې ټوپ کړل.
عليمردان تر دروازې تېر شو، په تخرگ کې يې دسترخوان نيولی و، د پيالو ربړدېدا خته... ها خوا کته کړې خره ولاړه وه، د دوی په بوساړه کې يې خوله وهله...
ښنگل يې له تشي ها خوا کړه، ښرپ شو، دسترخوان خطا شو، شېرباز ويړ کړ، دواړو په بدل رقم ورکتل، د ده د مزاج خاطر يې کاوه. چای جوشه يې ور پورته کړه، پيالې يې ډکې کړې، دسترخوان يې خور کړ، د شيرچای پيالې يې ور مخ ته کړې.

لمر سترگې وړې، عليمردان وويل:

- ځئ، چې کوټې ته شو، لمر نور سوزول کوي.

شېرمامد وويل:

- نه، ځم خټه خيشتوم، د باغ سرموره پاتې ده، ماسپښين ورته اشر کېږو، ته هم راشه، کار مه کوه، تر پسخې وروسته به سيند ته ښکته شو، خبرې به وکړو، زړه مه وهه، د خدای پاچاهي لويه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه روان شو، علیمردان پیالې ور ټولې کړې، د پښو پهٔ سر ناست و، چورت یوړ، جګ شو، پر برجورې کلا ورننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم څپرکی

ملا روزي خان (اخخخ) کړل!! چټکه منده یې را واخیسته، لونګۍ یې پرېوته.
غوایانو رمبارې وهلې، ترکېدل، یوهٔ کولبیي پړی وشکاوهٔ، پر باغچه یې ور منډه کړه. لهٔ پټیو د ښځو او سړیو سېل را خوشې و، چغې و بغارې یې ختې...
زرین تر درمندځای ور ورسېد، پر سر یې غبرګ لاسونه ایښي و، تړک شو! ښی لاس یې څنډ واههٔ، بل تړک شو! پر مخ یې سرې وینې را ماتې شو.
علیمردان پهٔ زوته وویل((ژر کوه راننوځه!))
زورور کړب شو، د حجرې دروازه پر دېوال ولګېده. څو تنه لانده خلک ولاړ وو، علیمردان ور وړاندې شو، د زرین ویښته یې سره بېل کړل، ځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، پهٔ ډاډ يې وويل((ډېر ژوبل نه دی، پهٔ ځادر يې کلک وتړه، وينه يې دريږي.))
زرين ډډې ته شو، بل ورغی، ځادر يې ور لونګی کړ، پر بام د ږلۍ درب و دروب خوت...
ږلۍ ورو- ورو تېزېده... غټ غرب شو، پورته يې وکتل، له چته غوټه- غوټه خاورې راتوېدې...
زرين پر مخ لاس واهۀ، سريښ بخن و، بهر يې وکتل، کليمه يې تېره کړه، پهٔ وېره يې وويل((خدايه! امتحان دې سخت دی!!))
کړنګ شو، د کړکۍ ښيښه مېده- مېده توی شوه، عليمردان اسويلی وکړ، په وير يې وويل((د هګۍ پهٔ اندازه ده، دومره ږلۍ مې پهٔ عمر ليدلې نهٔ وه.))
زرين پورته چت ته کتل... پهٔ وينو سرۀ- سرۀ خلک پهٔ تادۍ حجرې ته ننوتل... ټولو کليمې تېرولې، سوالونه يې کول.
يوۀ غوايي رمباړه کړه، د دروازې تر مخ تېر شو، زرين وويل:

- د فصل به څه حال وي!! د حاصل وخت يې و.

ګله دين مخ ور واړاوۀ، پهٔ لړزېدلي غږ يې وويل:

- د سر خبر غواړه، خولۍ ډېرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرې ترپ وهل، شاتنۍ پښې یې پورته- پورته واچؤلې، تر ونې لاندې ودرېدهٔ. ځای- ځای مړهٔ چرګان پراتهٔ وو. پر بام د بړلۍ د لګېدو غړونه ختل...

زرین لاړې تو کړې، و ګوښېد((لهٔ دغسې غټې بړلۍ سات وروسته ډېر بې لارې سېلاب راځي، خدای دې خېر پېښ کړي!

ټولو (امین) کړل. تندر ګړز وهل، کلیمو زور واخیست، لاندې باغچه کې د ناجو پر ونه سور اور بل شو، علیمردان بهر وکتل، بړلۍ وړه شوې وه، هیله من شو.

زرین کونج ته وکتل، ګامونه یې واخیستل، دوه قاته توشکه یې پر سر کړه، پر یوهٔ قات یې لاسونه ور دننه کړل، ملا روزي خان ته یې وکتل، هغهٔ وویل: ((بړلۍ ورو شوه، وګرځه، چې څهٔ حال دی!؟))

ووت، لرې یې کتل، خلکو منډې وهلې، ځینو یې سرونه نیولي وو.

خوړ ته ورغی، پوزه یې کش کړه، غوږ یې ونیوهٔ. باغچې ته ورغی، مړهٔ چرګان پراتهٔ وو. بړلۍ ودرېده، توشکه یې پهٔ تخرګ کې ونیوله، روان شو. د علیمردان د حجرې سوپه لهٔ خلکو ډکه وه. حجرې ته ننوت، توشکه یې لهٔ تخرګه خطا کړه، ووت.

علیمردان روان شو، چټک ګامونه یې اخیستل... د برجورې کلا پله یې ور دیکه کړه، غنګګس یې ونه کړ. ناوې بهېدې، غوایانو موږې ویستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، نادرکه وو. مور یې وارخطا وه، د ګلالۍ سترګې سرې وې.
پر زینه وخوت، بامونه یې وکتل، په بیړه ښکته شو، کوټې ته ننوت، ګلالۍ څاڅکو ته چلمچي برابروله. مور یې په ویر وویل:

- د باندې څهٔ حال و؟

- دومره خلک نهٔ وو راوتي، کهٔ مازیګر وای، ډېر خلک یې ایسارول.

ګلالۍ لوند پیکی پهٔ لاس پورته کړ، پر شونډې یې مالګینې اوبهٔ ولګېدې.
بهر را ووته، د چرګانو کوټنۍ ته یې وکتل، تر څنګ یې مړه چرګه پرته وه، لهٔ پښو یې ونیوله، سر یې ځړېدهٔ، علیمردان ور وړاندې شو، ترې وایې خیسته، بام ته یې ور واچوله.
هوا پورته وه. د روانو اوبو بژژس و، د ګټو کړپا خته. خلک بهر راوتي وو، ځانونه یې خبرؤل.
سېلاب لکه قهرجن مار روان و، ښځې بامونو ته ختلې وې، ګرچاپېره یې کتل، ویش او وای یې خوت.
د سېلاب اوبهٔ پر سیند ورګډېدې، د علیمردان دوی دوه کولبیان یې وړي وو، یؤ ورک و، بل هغهٔ لږ وړاندې لامبو خوړله، تر غاړې را ووت. د سېلاب تیږو زېلی و، پښې یې پر څادرونو ور وتړلې، چاړه پهٔ لاس ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزي خان ور وړاندې شو، غوايي يې حلال کړ. ونډې- ونډې يې کړ. خلک اشر شول، د عليمردان دوی تر کوره يې څو بوجۍ غوښه ورسره يوړه.

مور يې تسپې اړؤلې، د سر شکرونه ويستل، ګلالۍ پورته شوه، پهٔ دېوالهٔ کې بند لور يې ور کش کړ، چانتۍ ته ورغله، اوبهٔ يې پرې تېرې کړې، لګن يې ور واخيست، لړمون يې پاکاوهٔ.

عليمردان ووت، دوره يې ووهله، ستړۍ او ولاړ غنم لهٔ کاره وتي و، د کال روزي ږلۍ يوه مړۍ کړه. چورت يوړ...

ملا اذان وکړ، کور ته وخوځېد، اودس يې وکړ، مور يې پورته شوه، پر جاينماز ودرېد، سلام يې وګرځاوهٔ، تيارهٔ وه، برقونه نهٔ و. ګلالۍ غږ وکړ، عليمردان ورننوت، دوره خلک پر دسترخوان ناست وو، پلار ته يې مخ کړ، پهٔ خواشينۍ يې وويل:

- دادا! څهٔ به کوو؟

هغهٔ پهٔ ډېر ډاډ او تؤکل وويل:

- چې پېدا کړي يې يو، روزي به را کوي.

لهٔ کاسو تپ خوت، ګلالۍ يوه ډوډۍ کېکاږله، د پلار تر مخ يې کېښوده، عليمردان ورو وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وسیله غواړي، مجبور چېرته په مزدورۍ پسې لاړ شو.

- خلکو ته به گورو.

- هر سړی په ځان او وس کې بېل دی، باید یو کار وکړو.

- لکه څهٔ وکړو؟

علیمردان گوله جوړه کړه، د لړمون دانه یې پهٔ کې تاو کړه، خولې ته یې کړه، شخوند یې واههٔ، پهٔ زړهٔ غل و، د پېښوړ خبره یې پر ژبه رانغله ورو یې وویل:

- ولاکه خو لاره را ښکاري!!

گلالۍ پورته شوه، لهٔ دېگه یې ډکه خمڅۍ ورپورته کړه، پهٔ کاسه کې یې واچوله، د لړمون دانې یې کېکاږلې، کلکې هغه یې پهٔ کاسه کې واچوڵې، د پلار تر مخ یې کېښودې.
د کلا دروازه وټکېده، علیمردان پورته شو، بهر ووت، یخه هوا لگېده، پر جېب یې لاس وتپاوهٔ، لاسي بجلۍ یې ور وویسته، پاېڅې یې پورته کړې، تر چکړو اوښت، د کلا د دروازې د کونج لهٔ ترکه زېړه رڼا را تېرېده، علیمردان په زوټه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څوک یې؟

اشنا غږ وشو:

- شېرمامد یم!

د دروازې زنځیر یې خطا کړ (شرنګ) یې شو، ووت، د شېرباز پهٔ لاس کې څراغ و، د شېرمامد او شیرین تتې څېرې ښکارېدې...
علیمردان د ډوډۍ ست وکړ، هغوی خوړلې وه.
پهٔ بیړه کور ته ننوت، پلار یې وپوښت، دهٔ ځواب ورکړ، ګلالۍ ته یې د چای وویل، دوه- درې مړۍ یې ژر- ژر خولې ته کړې، پهٔ بیړه ووت.
پورته یې وکتل، ستورې ښکارېدل، د کلا پهٔ دروازه ووت، د حجرې خوا ته یې ګامونه واخیستل. هغوی پهٔ حجره کې ناست وو، تر کړکۍ د باندې دوه غټ سیورې ښورېدل.
ټول خفه ناست وو. د بچیو روزي یې ړلۍ وخوړه. علیمردان سلام واچاوهٔ، غلی کېناست، خاموشي وه.
ووت، لاسي بجلۍ یې روښانه کړه، د کلا پر لور ورغی، ننوت، پر سوپه څراغ ایښی و، ګلالۍ پیالې مینځلې، بجلۍ یې ور واچوله، ګلالۍ سترګې چوغې کړې، ژر یې بله خوا کړه، ګلالۍ پورته شوه، د تنارهٔ له سره یې پړه لرې کړه، د تنارهٔ اوسپنیز سر یې وخښاوهٔ، ټیټه شوه، چای جوشه یې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کړه، علیمردان بجلۍ ور اچولې وه، ارمونه یې چاینکه یې ډکه کړه.

علیمردان د وریژو غټ دېګی واړاوهٔ، لهٔ غوښو ډک لګن ترې لاندې و، بېرته یې پټه کړه، غټه تیږه یې پرې نسکوره کړه. ګلالۍ پخلنځي ته ننوته، دوه قابه ګوړه یې کېښوده، پر چاینکه یې د ټیکري پیڅکه تېره کړه، علیمردان ور ټیټ شو، پتنوس یې واخیست، ګلالۍ چاینکه ورکړه، تر پتنوس لاندې یې چاینکه هم ورسره اوېزانه واخیسته، روان شو...

ګلالۍ د څراغ پلته پورته کړه، بهر ووته د پخلنځي دروازه یې زنځیر کړه. مور یې برنډه کې ناسته وه، تسپې یې اړولې، ګلالۍ د برنډې پر ژۍ ودرېده، لهٔ پیالې یې غړپ وکړ، پورته غونډۍ ته یې کتل...

چای یې واچاوهٔ، غلی کېناست، نورو ته یې کتل. زرین ځان عادي کړ، ټوکې یې کولې، ټولو د زړهٔ پهٔ زور خندل.

د زرین نیکهٔ لهٔ لغمانه سروبي ته کوچېدلی و. باولی خان د پاچا پهٔ وخت کې د سیمې مهم سړی و، دېرې و ډنډې یې برابرې وې. د وخت حاکمانو یې سلام کاوهٔ. درسته ورځ به سېلونه وو، ډوډۍ ګانې خوړل کېدې، د جنګي مړزانو او سپیو ګلې ور روانې وې. د لغمان هره نوې او زړه خبره به د باولي خان پهٔ حجره کې ډنډوره شوې وه.

تر کودتاوو وروسته تورن شو، چې ګنې د کمونستانو جاسوس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدینو یې پلار وواژهٔ، دوی وتښتېدل، پهٔ لغمان کې شته ځمکې یې څهٔ خرڅې کړې، څهٔ خلکو ونیولې. دوی پر سروبي مېشت شؤل. کور یې د چرسي غونډۍ پر نیمایي کې جوړ کړی و، اوازې ګډې وې، چې دوی لا هم د انګرېزانو خلک دي او پهٔ دغه غونډۍ کې د زرو پهٔ بوتانو او تاریخي شیانو پسې راغلي. خو د دوی بېچارګۍ دا هر څهٔ ردؤل. زرین د زړهٔ پهٔ ژؤرو کې اندېښمن و، کهٔ یوه لاره و نهٔ باسي، بچي یې نهریږي.

سپیو د مړو شویو چرګانو پهٔ غوښو جنګ کاوهٔ، کوړنجا به یې شوه. شېرباز و شېرمامد بله لاره نهٔ لیده، پېښور یا ایران ته تګ یې تر مخې و، کنه نهر یې بوله!
علیمردان چاینکه ورپورته کړه، سپکه جګه شوه، پورته شو، پهٔ بیړه ووت، بجلۍ یې ولګوله، د برجورې کلا مخ ته غوا پرته وه، شخوند یې واههٔ... لاسي بجلۍ یې ور واچوله، ښکر یې مات و، بدن یې سور- پور و. د کلا دروازه یې ټېله کړه، ننوت.
ګلالۍ تنارهٔ ته ورغله، پلار یې پر کټ پروت و، خبرونه یې نیولي و. تر ځنګ یې ودرېد، هغهٔ راډیو ټیټه کړه، ور متوجه شو، علیمردان جریان شریک کړ، پېښور یې د مزدورۍ ځای وبالهٔ، پلار یې انکار وکړ.
ګلالۍ چای جوشه پر ځمکه کېښوده، دهٔ واخیسته، لاسي بجلۍ یې رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، د حجرې پر لور ورغی، چورت یې ښهٔ نهٔ و، د پلار انکار یې د ژوند رخ بدلولای شو.

هوا سړه وه، چای ښهٔ لګېدهٔ. شېرباز و شېرمامد د پېښور کیسې کولې، تېرې او زیاتې یې ویلې. زرین پهٔ خوند غوږ نیولی و. د پېښور کیسې ښې لګېدې، چې بحث به بدل شو، علیمردان به فتح ورکړه، هغوی به همغه کیسه پیل کړه.

پهٔ پېښور یې سلا را نغله، ایران یې ښهٔ وبالهٔ، څو ډلې ځوانان وار لهٔ مخه هلته وو. د پاکستان پنجاب یوازې د لوښو سیزن درلود، دوی پهٔ دغه کار بلد وو.

شېرباز شېرمامد ته مخ کړ:

- تر دولسو واوښتې!

علیمردان وویل:

- د درې واړو لارې بېلې دي، مړزګو ته لېوان را کوزېږي، بېخي ناوخته ده، همدلته پاتې شئ!

علیمردان پر دېوال باندې سیورو ته وکتل، د زرین اوږده پزه بل وړ ور ښکاره شوه، هغهٔ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یاره چې پاتې شو او کیسې وکړو، ښه به وي.

درې سره په حجره کې وغزېدل، د بسترې مجلس خوند کاوه. علیمردان پیالې ور ټولې کړې، ووت، د برجورې کلا دروازه یې ټېله کړه، پیالې یې کېښودې، دروازه یې کولپ کړه، بجلۍ یې په خوله کې ونیوله، مخه یې رڼا کړه، چکړې وې، پراخ- پراخ ګامونه یې اخیستل.
کوټې ته ننوت، لاسي بجلۍ یې روښانه کړه، کړکۍ ته یې رڼا واچوله، ورغی، اورلګیت یې ور پورته کړ، څراغ یې بل کړ، ژیړه رڼا شوه.
د فرش یوه څنډه یې ور واړوله، کیلي یې ور واخیسته، کوز کونج ته لرګین صندوق ایښی و، سپینه پر سترجو ښایسته شوې پرده پرې پرته وه، کیلې یې په کولپ کې تاو کړه، بکس یې خلاص کړ، خوږ بوی ترې را ووت، د فرشتې د حجاب تور ټیکری یې ور واخیست، پر زړه پورې یې کلک ونیوه.
د بام پر سر ترپ شو، سپي وغپل، د باندې یې وکتل، لاسي بتۍ یې واچوله، سپي په پیشو پسې زغستل...
پورته شو، نرۍ برستن یې پر توشکه ویره کړه، څراغ ته یې ور پوه کړل، لاسي بتۍ یې روښانه کړه، ځای یې وموند، د فرشتې ټیکری یې پر بالښت ویر کړ، پرېووت، په چورت کې و، څرخه یې نیولې وه، نصرالله بادیوه پورته کړې وه، د دروازې ګرب شو، د نصرالله خبره وریاده شوه (کنچنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغله). اۀ فرشتې! نو تر کله؟

ویدۀ شو. سپېده چاود و، د کوټې دروازه وټکېده، پرده یې چوله کړه، پلار یې و، پۀ زوټه یې وویل: (( ویښ یم جګېږم!))

د فرشتې ټیکری یې کونج پۀ کونج قات کړ، پر بالښت یې کېښود، بړستن یې ټوله کړه، تر فرش لاندې کیلې یې ورواخیسته، صندوق یې خلاص کړ، د فرشتې ټیکری یې تر یوې کتابچې تاو کړ، د رویا پۀ ورکړې خلطه کې یې واچاوۀ، صندوق یې کولپ کړ، د باندې ووت.

شېرباز و شېرمامد پر ویالۀ شړپېدل اودسونه یې کول، زرین ویدۀ و، علیمردان غږ و نۀ کړ، کور ته لاړ. ګلالۍ تنور اچولی و، سترګې یې لوګي وسوزؤلې، پر ټیکري یې وسولؤلې، علیمردان ورغی، د تاودۀ پاستې څنډه یې پرې کړه، شخوند یې واهۀ، ګلالۍ وویل: ((لالا چای تیار دی، کۀ وړې یې؟))

علیمردان د برنډې پر ژۍ کېناست، تر مور یې چرګوړي تاو وو، وچه ډوډۍ یې پر تیږه ټکوله، چرګوړي چونګېدل...

ګلالۍ غږ وکړ، علیمردان پورته شو، پۀ تخرګ کې یې دسترخوان ونیوۀ، تودوالی یې حس کړ، پۀ یوۀ لاس یې پیالې او پۀ بل هغۀ یې چای جوشه ورپورته کړه. د پیالو ربړدېدا خته، ووت، د باندې پۀ ویالۀ کې هیلیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوټې وهلې، د درمند ځای تر مخ ډېران کې چرګانو خلپلکې وهلې. څلور سره په چای څښلو شول. شېرمامد وویل:

- چورت مې وواهه، په خدای را پېښ کړي حالت خفګان د نا رضایتۍ مانا لري. چې په هر حالت رضا نه شو، بندګي یې مه بوله!

- شېرباز زوړندې شونډې وښورولې:

- پور هم له چا نه شې غوښتای، ټول سروبی یې وهلی، ټول یو شی یو.

علیمردان غلی و. دروازې ته یې کتل، شېرمامد مخ ور واړاوه:

- د ابا دې څه خوښه ده؟

علیمردان وویل:

- ابا مې په چورت کې دی.

زرین زړه نا زړه و. شېرمامد اسویلی وویست، ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کابل کې هم مزدوري نشته. نازک میر تللی و. ویل یې پهٔ خپته گروۀ وم.

زرین وویل:

- ایران څنگه دی؟

علیمردان متوجه شو. ویې ویل:

- مزه یې نشته!

شېرمامد شنه نصوار ورواچؤل، خولهٔ کړشوپه ویې ویل:

- د ښاه گانو کار پهٔ کې ښهٔ دی.

علیمردان غلی و. نری شمال راوالوت، د لندو ختو بوی یې ورووړ. شېرباز نیمکښه کړکۍ ورخلاصه کړه. یخه هوا ولگېده.
څلور سره جگ شؤل. د سیند غاړې ته لاړل. د هلکو ډلې ناستې وې، مشورې کېدې...
در گرده موټر راتلل، زخمي غواگانې او وزې یې کابل ته وړې. هلته پلورل کېدې او پیسې یې د ایران پهٔ کرایه لگېدې، بې وزلو وړکیو لهٔ نورو هغو کرایې پورؤلې. د کور او پټیو پهٔ سر ایله یؤ کس پاتې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان نهٔ غوښتل، چې ایران ته لاړ شي، ملګري يې هم د پېښور خوا ته لمسؤل، هغوی څو ځل د ایران لپاره پنډکي وتړل، خو علیمردان پسې پهٔ کې اچؤلې. زرین د پارک او نجونو لهٔ چورتونو ډک و.

علیمردان د پاچا صفت کاوهٔ، چې ګنې د کار سړی دی او د کار پهٔ موندلو کې مرسته کولای شي.

د ماښام پهٔ اذان کې د ملا روزي خان درد محسوسېدهٔ، علمیردان تر لمانځهٔ وروسته کور ته لاړ. مور او پلار ته يې ور لهٔ غوبړه کړه، چې ایرانیان خلکو ته مخدره توکي ړدي، پهٔ حکومت يې نیسي، هغوی يې ګوردې باسي او تش بدن يې غرغره کوي.

پلار يې راډيو وغوښته بیا کیسه مالومه نهٔ شوه.

د بلې ورځې پهٔ سهار شېرباز، شېرمامد، زرین او علیمردان سره غوړونه جنګؤلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

فلاینکوچ د باډرو په هډه کې ودرېد، ګڼ خلک ترې کوز شول. علیمردان شخې وویسته، ها خوا د کیستهو له دکانه د سندرې غږ خوت، د زرین زړه هوا کوله... بوجۍ او بېکونه یې سره پر شاه کړل، شېرباز وویل:

- شخ پخ یم، که پیاده شو و به نه غوړېږو؟

زرین ستمېده، ویې ویل:

- زه خو نابلده یم، اوس به مې کومه کادانه در سورۍ کړې وي.

شېرباز وویل:

- درځئ کېمپ ته ځان ورخطا کړو، تهوله نیم سات لاره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باډرو د سپین جومات شاته ګڼ بازار و، پرې ور ګډ شول، عمومي، ناولې او بوینه ویالۀ یې ونیوله، مخ پر بورډ روان شول...
د کچه ګړۍ کېمپ ګڼ و، شور یې خوت. ښایسته مزل یې وکړ، شېرباز، زرین ته کړل:

- دا نمبر چهار دی، تر دې ورهاخوا د چارمارو بازار راځي او تر هغې ور هاخوا بورډ دی. مرکنډېر کې د علیمردان تروړزی پاچا اوسېږي.

بورډ ته نژدې کېدل... د علیمردان زړۀ دربېدۀ، نور ټول پۀ طبعه وو.
پاو کم یو سات وروسته د بورډ چونګي ته ووتل. قضا مازیګر و، پر سرک واوښتل، د مرکنډېر پر کېمپ ننوتل. خلکو پرې د تبلیغیاتو پۀ ګومان سلام کاوۀ. زرین ته هر څۀ نوي وو، هره خوا یې کتل. علیمردان پۀ چورت کې و، د دوی خبرو یې فکر شکاوۀ.
د حاجي ظاهر د جومات تر څنګ ګنې رېړۍ ولاړې وې، ځینو یې ګازډبې روښانه کړې وې، د میوو نومونه اخیستل کېدل، خلک یې اخیستو ته ور بلل.
د هلکانو ډلې پۀ مخه ورتلې، بېټونه یې امسا کړي وو، پر پاخۀ سرک یې ټکا خته، ځینو یې د لوبو کیسې کولې.
علیمردان څۀ وویل، یوۀ دوکان ته ور وګرځېد، یو ډبی سګرټ، پاکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شامپوګانې او یوه کلچه صابون یې واخیستل، ګرد سره روان شو.
زرین پر جېب لاس ور دننه کړ، نصوار یې اندازه کړل، ګوزاره کېده. تر عمومي بازار ووتل، ماښام تیارۀ وه، پر یوۀ فرعي بازار ور ګډ شول، علیمردان سګرټ بل کړ، زړۀ یې بل وړ و، خوشالي او غم سره ګډ شوي و. پۀ یوه تنګه کوڅۀ ور ننوتل، د کوڅې اخر ته ورسېدل، دروازه یې وټکوله، ها خوا یې وکتل، د فرشتې د کور لرګینه دروازه وه، شنه پرده ورته ځړېده.

د پښو ښکالو شوه، غږ یې وکړ:

- څوک یې؟

علیمردان پۀ لوړ غږ وویل:

- زۀ یم! د حجرې دروازه را خلاصه کړه.

نصرالله د دروازې تر چاود ور وکتل، زړۀ یې پۀ ټوپو شو، علیمردان ته خوشاله شو، منډه یې کړه، د حجرې دروازه یې خلاصه کړه.
ټولو ته یې لاس ورکړ، ټول ننوتل.
نصرالله د کور پر لور منډه کړه.
علیمردان تشناب ته ننوت، د پلاستیکي بیلر سر یې پورته کړ، تر خولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډک و. د اوبو شرپا شوه، خیشتې څنې را ووت، پاک کالي يې اغوستي و، کوټې ته ننوت، د پکي هوا يخه لګېده. د نورو وار شو.
علیمردان کوڅې ته ووت، د فرشتې د کور دروازې ته يې وکتل، لرګينه دروازه وه، شنه پرده ورته زړېده.
سګرټ يې بل کړ، د کوڅې لر او بر ته يې وکتل، بېرته ننوت. دروازه يې بنده کړه، حجرې ته ننوت. د کور لهٔ خوا حجرې ته د ور وټې دروازې ګړب شو، نصرالله پهٔ خوند وويل: (مور مې دې غواړي.)
علیمردان پورته شو، نصرالله مخکې، دی ور پسې ووت.
ګل روپۍ پر مخ ښکل کړ، رويا ور وړاندې شوه، لاس يې ورکړ، يوه وچه او ډنګره ښځه ورغله، ټيکری يې مخ ته نيولی و، ستړي مهٔ شي يې ورکړه.
علیمردان څمکې ته کتل، رويا پکې سترګې خښې کړې وې. پر کټ کېناستل د وطن کيسې شورو شوې... د بڼلۍ کيسو ټول حېران کړي وو، خبر وار دمخه را رسېدلی و، ګل روپۍ قيامت نژدې وبالهٔ.
رويا تنارهٔ ته ورغله، ترپړ يې لرې کړ، لګن يې يوې خوا ته کړ، لاس يې ورښکته کړ، توره چای جوشه يې ور پورته کړه، پهٔ بيړه پخلنځي ته لاړه، ارمونيي چاينکه يې راوړه، غټې چايجوشې ته يې ور پوه کړل، چاينکه يې ور ډکه کړه، علیمردان د سترګو لهٔ کونجه ور وکتل.
د پيالو غږ شو، علیمردان ور وکتل، رويا پتنوس پر څمکه کېښود، پهٔ بيړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانه شوه، غوښن بدن یې ښورېده، وړوکی مېز یې لاس کې و، پتنوس یې پرې کېښود، درې پیالې یې ډکې کړې، د مور تر شا د برنډې پر ژی کېناسته.

ګل روپۍ ورروستی غړپ وکړ، پیاله یې پر پتنوس نسکوره کړه، پاېڅې یې پر پونډیو ور ښکته کړې، څپلکې یې پښو کړې، اوداسهٔ ته جګه شوه.

علیمردان پیاله تشه کړه، پتنوس کې یې کېښوده، رویا ور جګه شوه، چاینکه یې ور پورته کړه، علیمردان یې سترګو ته وکتل، هغې پیاله ور ډکه کړه. علیمردان ورو وویل:

- فرشته څنګه ده؟

رویا پهٔ ټوکو وویل:

- خدای دې یې وبښي، ښه نجلۍ وه.

علیمردان غلی و. رویا وویل:

- ښه ده، کله چې یوازې یو، ستا مجلس کوو.

اه! کاش دا خبرې پر کاېناتو کې پاتې وای، کاش د عشق عالم ابدیت لرلای او هرې ذرې د ژوند او عشق چغې وهلې، داسې چیغې، چې کاېنات یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شور او زوږ په بربادۍ کې هم اباد وای!!
علیمردان غلی و، پیالې ته یې کتل، رویا وویل:

- یاره دې له ځانه سره سندرې وایې.

علیمردان متوجه شو، ګوندې په کومه سندره کې ځان ووینې، یا ترې پیغام واخلي، ویې وپوښتل:

- کومه یوه درته یاده نه ده؟

رویا غلې وه، سترګې یې چوغې کړې، څه یې وریادېدل:

- اممم... نه

علیمردان وویل:

- له ما یې خبره کړه!

- ښه به خوشاله شي، بیا به لکه د بنګو پیاله غرقه ناسته وینه...

- ورشه، ورته ووایه، چې راشي.

- هغه د مړې ګېډې پاړسي به نو همدې ته وایي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت یې غلام و، فکر یې بري و، امېد یې و، خوبونه یې سره یو ځای وو.
علیمردان په ټوکه وویل:

- ډېرې ماناداري خبرې کوې!

- ځان ښیم!

رویا په برق برق وخندل، مور ته یې ور وکتل، نه ښکارېده. علیمردان غلی و، د فرشتې په وجود لاهو شوی ځان یې نه شو محسوسولای. دی لاهو و، یوازې یوه ډاډ او لاس را ویستلای شو، د فرشتې لاس!
علیمردان په چورت کې و، رویا وغږېده، ده ټکان وخوړ، هغې شاته وکتل، ورو یې وویل:

- له فرشتې مې څو د ټېپ پیتې راوړې وې، در یې کړم؟

علیمردان ټکان وخوړ، لکه څوک چې وسوزي او متوجه شي. په بېړه یې وویل:

- پټې یې راکړه.

رویا کوټې ته ورغله. علیمردان ور کتل، نرۍ شمال را والوت، د لاچي د ونو د پاڼو غږ خوت...

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان چورت وړی و، څهٔ به کېږي؟ اینده خو تور تالا ماښام دی، ګڼ ماتمونه لري او وخت چې تېرېږي، بې خوښې فېصلې کوي...
رویا درې پیتې ورته ونیولې. دهٔ لاس ور اوږد کړ، بغل جېب ته یې واچولې.
ګل روپۍ لهٔ لمانځه خلاصه شوه، تسپې یې اچولې، نصرالله یې ور وغوښت، د باندې یې ولېږهٔ.
علیمردان حجرې ته ورغی، شېرباز او شېرمامد ویدهٔ وو، زرین چای څښهٔ. نصرالله ورننوت، لکه دوی ته چې نوی تلویزیون ښکاروي، چالان یې کړ، زرین اوتر- اوتر ورکتل، نصرالله علیمردان ته وویل:

- سودا پسې ځم، چکر وهې؟

علیمردان زرین ته ور وکتل، هغهٔ پیاله و بالښت ور واخیستل، تلویزیون ته نژدې یې تکیه ووهله.
ووتل، علیمردان شاته وکتل، لرګینه دروازه وه، شنه پرده ورته زړېده، زړهٔ یې کاواکه و، هېڅ یې محسوس نهٔ کړل، تر کوڅې تېر شول، لنډی بازار و، شور خوند ورکاوهٔ، د ژوند علامې ډېرې وې.
نصرالله یوې تارینې پنجرې ته ودرېد، سپین فارمي چرګان پکې و، بیه یې وکړه، پلورونکی چرګ ور وړاندې کړ، علیمردان یې پر سینه لاس کېښود، هغهٔ حلال کړ، دهٔ لهٔ سګرټه لوګي ښکل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازیګر قضا و، ژېړ ګروپونه لکه شیندلي سرۀ زر، هر منظر یې واضح او ښکلی کړی و.
علیمردان دوکان ته ور تاو شو، دوه شیشه یي بوتل یې راواخیستل، پیپسي یې وڅښله، بوتلونه یې بېرته ورکړل، نصرالله د علیمردان بل شوي سګرټ ته ځیر و.
حرکت یې وکړ... لۀ یوۀ ولاړ موټره د خیال محمد سندره راتله (لاړ کۀ مې نظر شي، زۀ به ستا لارې ته ګورمه – را دې شي اجل، خو د وفا لارې ته ګورمه)
علیمردان پښه نیولی شو. نصرالله غلی و.
یو پاک کالی هلک د موټر خوا ته ورغی، پۀ کې کېناست، سندره لړې کېده...(څو به مې نظر کوي، مزل پۀ حجابونو کې – څو به دې لۀ خلکو نه پۀ غلا لارې ته ګورمه)
علیمردان زنګېدلی روان شو، اوښکې یې پر مخ ورغښتې. بل سګرټ یې بل کړ.
کوڅې ته سیخ شول، علیمردان سترګې وسولولې، نصرالله غلی روان و. د حجرې دروازه یې خلاصه کړه.
سګرټ یې بېخچن کش کړ، تر پښې لاندې یې کړ، د حجرې پۀ دروازه ننوت. تشناب ته ورغی، مخ یې ومینځه، د سترګو ستر یې کاوۀ، کوټې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان شو، زرين تلويزيون ورو کړی و، شېرباز او شرمامد لمونځونه کول.
ځمکې ځای نۀ ورکاوه، کور ته ننوت، رويا نغري ته ناسته وه، ور پورته شوه، دۀ په لنډه وپوښتل:

- نۀ وه راغلې؟

- راغلې وه!

اه! دا څوک راغلې وه، چې هر څۀ بدل - بدل دي، دا څوک ده، چې سترګې يې پۀ فنا محکومول کوي، دا څوک ده، چې دا ماحول او هر څۀ يې بل څه او بل څوک کړل!!؟ دا څوک ده، چې دا رنګونه يې لۀ مخه ښکاري!!؟
عليمردان غلی و. رويا يې سترګو ته کتل، اوښکو څۀ حکايت او روايت کاوۀ.

رويا وويل:

- ويل يې سبا راځم، عليمردان دې چېرته نۀ ځي.

عليمردان غلی و، کاش لۀ دې ځای پرته بل ځای او (چېرته) ښخي نۀ وای!! کاش همغه سبا ټول عمر سبا وای، او هېڅکله نۀ پرون کېدای!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پهٔ اوښلنو سترګو يې رويا ته ورو‌کتل، هغه لکه بوت ولاړه وه. علميردان روان شو، پښو يې شيمه نهٔ لرله، حجرې ته ووت.
د لرګينې دروازې لهٔ ترکونو رڼا ښکارېده، دروازه يې خلاصه کړه، کوڅې ته ووت، د ريکشې غبږ را نژدې کېدهٔ، د حجرې دروازې ته نژدې شوه، پاچا پهٔ خوند او مينه وويل:

- اووو‌و... سترګې مې رڼا شوې!!

را کوز شو، د رکشې ګروپ لګېده، مخې ته يې دوړه ښکارېده. ستړي مهٔ شي يې وکړه، دواړه ننوتل. پاچا حجرې ته ورغی، روغبړ روان و، د بړلۍ پهٔ کيسه کې لږ تېرې او زياتې خبرې وشوې.
عليمردان جيب ته لاس کړ، درې د ټېپ پيتې يې پر توشکه ور خطا کړې، پاچا پهٔ خوند وويل:

- ښنګه ټېپ راوړم؟

عليمردان شېرباز ته وکتل، هغه وويل:

- را يې وړه، چې څهٔ سورونه پکې دي.

پاچا پورته شو، ووت. عليمردان بل شوی سګرټ وار کړ. پاچا سلام وکړ، سونيو باډې چوبې ټاپ يې پر کټ کېښود. عليمردان پورته شو، يوه پيته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې پر لاس و ټکوله، پشم يې ور لوند کړ، ور وايې چوله، د سردار علي ټکر غبړ وخوت:

جنازه چې مې لهٔ کوره ګور ته واخلي
تهٔ به نهٔ يې را وتلی، زهٔ به مړ يم
وچې ترخې چې پهٔ ما را زرغونې شي
چې مزار مې شي مښلی، زهٔ به مړ يم
دغه دوه ورځې ژوندون دی مرګی ورک شه
سره خاندي به ټول کلی زهٔ به مړ يم
ای اشنا چې ته رادرومې دې وطن ته
خړ خيبر خو دې ليدلی زهٔ به مړ يم
د کاکل پهٔ خته بند د مخ کتاب کړه
ما خاطر په خدای سپارلی، زهٔ به مړ يم
لاسپيکر پوه شو، ملا اذان شورو کړ، پاچا پهٔ بيړه ور وغځېد، بټنه يې ووهله، سندره ګل شوه. رويا تر دروازې هاخوا غوږ نيولی و. نصرالله چلمچي او لوټه پر لاس حجرې ته ورغی، تر دروازې د باندې يې کېښودل، منډه يې کړه، دسترخوان يې ور واخيست، پر غولي يې وغورځاوهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېلمنو ځان سم کړ، نصرالله اوبۀ واچولې. پاچا دسترخوان خوراوۀ، نصرالله د کور دروازه ور خلاصه کړه، رویا پتنوس ورکړ، حجرې ته یې نویست، پاچا ډوډۍ ماتوله.

رویا تنارۀ ته ورغله، چای جوشه یې ور پورته کړه، چاینکه یې ترې ډکه کړه، پخلنځي ته ورغله، ګاز خلاص شوی و، بېرته را ووته، اور یې بل کړ، غټه توره جای جوشه یې پرې کېښوده. لمبو تصویرونه ګډول.

نصرالله اوبۀ نیولې وې، علیمردان لۀ ځانه سره کېناوۀ، زړۀ یې نیولی و، ډوډۍ یې زړۀ ته نۀ کېده.

دعا وشوه، دسترخوان یې ور ټول کړ. ډډې یې واچولې، تلویزیون ته ځیر شول، پاچا پورته شو، اجازه یې وغوښته، کور ته ننوت، دوی ځایونه سم کړل، زرین تلویزیون ته نژدې ناست و.

علیمردان بهر ووت، کټ یې سم کړ، توشکه یې وویسته، خوره یې کړه، بالښت یې سم کړ، څمکني ډنډه یې پکي ته ورغی، کټ ته یې برابر کړ، کوټې ته یې وروکتل، پر دېوالونو د تلویزیون رڼا ښورېده.

تر پخې شپې ویښ و، یوازې یوۀ خیال ورسره وړی و... هماغۀ یوۀ خیال!! د فرشتې په ځان کې یې خپل ابدیت لیدۀ، کنه لاړو فنا شو!!

فرشته دا ټول کاینات ده، د هر مزل منزل ده، هره لاره همدا یوه لاره ده، هره لاره همدې یوې لارې ته تللې ده، د هر اغاز، انجام همدلته دی، ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړول او ورانول دغه سترګې کوي، اه! چې پېکی وخندي، ټول کاینات ورسره څنډ خوري!!.

ويدهٔ شو، سهار پهٔ خړه د زرين د کليمو غبږ خوت...

پاچا وښوراوهٔ، عليمردان پورته شو، اودس يې وکړ، پر لمانځه ودرېد. شپبه وروسته چای وخوړل شو، پاچا ريکشه وويسته، دوی د بورډ بازار پر خوا روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوولسم څپرکی

څلور واړه د بورډ پر کوڅو سم وو، خشره مارکېټونه يې ولټول. مزدوران يې وپوښتل، يوهٔ د يوې خالي کوټې ادرس ورکړ. ځای او مالک يې وموندل، څلور تشې کوټې يې لرلې، پرې وگرځېدل، زړې کوټې وې، تېچنه هوا يې وه، نمجن بوی خوت...

پهٔ دوه سوه کلدارې سره جوړ شول. کيلي يې ور واخيسته.

زرين پاتې شو، پوز يې وواههٔ، د څنگ لهٔ اطاقي يې جارو واخيسته، څښ و پښ يې واچاوهٔ...

شېرباز، شېرمامد او عليمردان د پاچا کور ته وخوځېدل...

شېرباز پوښتنې کړې وې، ويل يې مېوې ښې گټې کوي، چل ول غواړي، دياړي درونه کسب دی.

عليمردان خوشاله و، فرشتې ته نژدې مېشت شو، کله کله به ورځي، فرشته به ويني او ځان به پوره کوي.

د حاجي ظاهر تر جومات ورتېر شول، کوڅې ته يې مخه کړه، تر فرعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازار واوښتل، پر یوه تنګه کوڅه ور ننوتل، د پاچا دروازې ته ودرېدل. علیمردان د کور پر دروازه ننوت، په بېړه حجرې ته لاړ، دروازه يې ور خلاصه کړه، شېرباز او شېرمامد ننوتل. علیمردان کور ته ننوت، رویا ته يې د چای وویل، حجرې ته ورغی، دوی پنډوونه تړلي وو، په انګړ کې ولاړ و. دهٔ کوټې ته ننویستل، کور ته ورغی، رویا لهٔ پخلنځي ور ووته، پتنوس يې ورکړ، دهٔ پوښتنه وکړه:

- ترور چېرته ده؟

- هلته تللې.

- چېرته؟

- د فرشتې ادې يې یادېده. ترور دې لوفره ده.

علیمردان وخندل، ورو يې وویل:

- فرشتې خو څهٔ نهٔ ویل؟

- نه، څهٔ به يې ویل؟

علیمردان غلی شو، پر مخ يې غم او الم خور شو، رویا پوه شوه، په ناز يې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سروپه درپسې لېونی ده.

د علیمردان زړهٔ وربږدېد، پهٔ خواره خولهٔ یې وویل:

- کومه خبره خو یې نهٔ کوله؟

- اوس یې راولړ، څهٔ بهانه به وگورم، تهٔ چای یوسه، لږ وروسته راشه!

کاپناتو پرې ټالی وخوړه. علیمردان چای یوړ، شېرباز و شېرمامد تلویزیون ته کتل، پیالې یې ډکې کړې، دوی یې تر نظر تېر کړل، بوخت ښکارېدل، سگرټ یې بل کړ، ناست و.
پیاله یې پر پتنوس ور نسکوره کړه، بهر ووت، اودس یې تازه کړ، سات ته یې وکتل، اسویلی یې وکړ.
کور ته ننوت، انگړ کې پر کټ کېناست، دروازې ته یې کتل، زړهٔ یې بې واکه و، لکه څهٔ پېښه چې کېږي، لکه هېڅ چې نهٔ کېږي، لکه جنت او قیامت چې یو ځای راځي، لکه ژوند چې همدا یوه شېبه وي، لکه همدا چې احسان او انعام وي، لکه همدا گړی چې د جنت بیلگه وي، لکه ....
دروازه خلاصه شوه، دوه مسکی خولې نجونې ورننوتې، زړهٔ یې وربږدېد، پورته شو، بېرته کېناست، نهٔ یې شوای ورکتلای!!
فرشته د رویا شاته پټه شوه، ناز یې کاوهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه د علیمردان مخې ته ودرېدې، فرشته ور وړاندې شوه، پهٔ لاس یې ستړي مهٔ شي وکړه. اه!! وخت دې ودرېږي!!
رویا روانه شوه، پر اور ایښې چاې جوشه یې ډکه کړه، پخلنځي ته ننوته، لهٔ هغه ځایه یې ښارل.
دوی یؤ بل ته کتل... فرشتې وخندل، سترګې یې ښکته کړې، روانه شوه، پخلنځي ته ورغله. ټیکری یې لهٔ سره پرېووت، ګڼ سرهٔ ویښتان یې ښانګې-وانګې پراتهٔ وو.
علیمردان پر ځای مېخ و، ځمکې ته یې کتل... ګړپ شو، نصرالله و، بادیوه یې راوړه، تاربندي یې وکړه، توله یې برابره کړه، ښرخه یې علیمردان ته ورکړه، بادیوه پورته شوه.
فرشته کړکۍ ته ودرېده، علیمردان ورکتل. رویا پورته شوه، ساکت یې پکې ورکړ، ټېپ یې چالان کړ، پیته یې ور واچوله، اواز یې ورکړ، د ټکر سندره چالان شوه:

چا وړه لولکه ګیره
کړه تورتم سیلۍ باران کې
چا تصویر د لیلا جوړ کړ
د دې سرو ګلو بوستان کې
پهٔ مین چې شي مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یارانه نهٔ ده بیوپار دی
چې پهٔ غم ارمان بدل کړي
دغه مینه، دغه یار دی

ای د مینې فرشتې
ای د نور او رنګ کیسې
ښاپیرۍ! ته چا بندي کړې؟
د غمونو د کوڅې...

سندره بدله شوه، علیمردان چرخه کېښوده، د باندې ووت، شېرباز و شېرمامد یې رخصت کړل، پوه یې کړل، چې وروسته به ورشي.
څلور واړهٔ پنډونه پهٔ شا شول، تر تنګې کوڅې تېر شول، پناه شول.
علیمردان ننوت، د حجرې پهٔ انګړ کې ولاړ و، پر کټ پرېووت، سګرټ یې بل کړ، خوند یې ور نهٔ کړ، خطا یې کړ، کوټې ته ننوت، اوږد وغځېد، سلګیو واخیست... زړهٔ یې کاواکه و، بې ځایه و، بې امیده و، بې دیاره و، بې خونده و، بې سازه و...
نصرالله ورغی، ببرته ننوت. ګړب شو، پورته یې وکتل، فرشته پر درشل ولاړه وه، خندل یې... سترګو ته یې ځیر شوه، غم پرې خور شو، ورغله، پهٔ غوسه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ای د سپي زویه! څهٔ درباندې وشول؟

دهٔ مخ تاو کړ، پر مټ یې خوله ولګوله، فرشته ورغله، تر مټ یې ونیو، ستونی ستغ پرېوت، پورته شو، سر یې پر زنګنونو کېښود، رویا ووته، فرشتې سینې ته ور جوخت کړ. پهٔ ناز یې وویل:

- مهٔ ژاړه، وګوره! زهٔ ټوووولهٔ ستا یم!

علیمردان سلګۍ وهلې. رویا پر درشل ودرېده، فرشتې اشاره وکړه، هغه ورننوته، علیمردان وشرمېد، لهٔ غېږې یې بېرته کېدهٔ، فرشتې نور هم کلک ونیوه...
علیمردان غلی شو، فرشتې خندل، رویا پهٔ چورت کې وه...
علیمردان ووت، مخ ته یې اوبهٔ واچولې، فرشته انګړ کې ولاړه وه، ټیکری یې ورکړ، هغهٔ رویا ته وکتل، هغې شرخ وخوړ، بل خوا یې وکتل، دهٔ مخ وچ کړ، رویا وویل:

- وګوره! نصرالله بادیوه را ښکته کوي، موږ به لاړې شو.

فرشتې لاس ورکړ، روانه شوه... علیمردان کوټې ته ننوت، پر رېک یې درې پیټې ایښې وې، بغل جیب ته یې واچولې، باندې ووت.
ځنګېدلي قدمونه یې اخستل، د اسلامیه کالج پر ګېټ ور ننوت، شین ماحول و، کوکۍ الوتې، ها خوا هلکانو کرکټ کاوه، یو ښاېستوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک د سوپ کراچۍ ته ولاړ و، علیمردان لوبې ته کتل، زړهٔ یې د قسمت پهٔ لوبه خام و، ځان ورته کم ښکارېدهٔ، فکر یې کاوهٔ، د هلکانو شور او چکچک به شو، د دهٔ د فکر لړۍ به یې پرې کړه.
ځنگ کې یې څوک کېناست، پر اوږه یې لاس ورواچاوهٔ، ټکان یې وخوړ. سپینکي هلک خندل، پهٔ ناستې یې غېږه ورکړه.
دی پر چمن ناست و، هغه وویل: (دستي راځم!)

سپینکی هلک تر گڼو دوکانونو ورغی، پې سي او ته ننوت، سلام یې وکړ، ځواب یې واورېد، یوې وړې غرفې ته ورننوت، غوږۍ یې پورته کړه، نمبر یې وواههٔ. لهٔ ها خوا تت غږ راغی:

- هلو!
- جي سر زهٔ یم، کارما!

هېڅ روغبړ یې نهٔ واورېد، لهٔ هاخوا وپوښتل شو:

- کوم کارما؟

بهر یې وکتل، ورو یې شفر ووایه:

- دوه نیم زره کلن کارما!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی او محسوس غږ یې واورېد:

- وایه کنه! څۀ خبره خو نۀ وه؟

لاړې یې تېرې کړې ورو یې وویل:

- صېب ته مې څو تصویران ښودلي وو، نور یې رد کړل، ویل یې چې عمرونه یې زیات دي.
- نو بیا؟
- یوازې یو هلک یې اوکې کړی و، خو هغه، هغه وخت کابل ته تللی و، اوس پۀ گوتو راغلی دی. څۀ کېدای شي؟
- تۀ یو پنځۀ مېنټه وروسته کال وکړه.

پۀ منډه ووت، د تیلیفون پیسې یې تحویل کړې، د ځنګ دوکان ته ورتاؤ شو، د پیپسي بوتلونه یې ورسره واخیستل، د علیمردان خوا ته ورغی.

هغه چورت وړی و... بوتلې یې وځښلې، علیمردان پۀ ځانځۀ ودرېد، دۀ وویل:

- زۀ به دا تشې بوتلې وروړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بيړه لاړ، بوتلې يې ورکړې، د څنګ پې، سي، او ته ننوت، وړې غرفې ته ورغی. تيليفون يې جګ کړ، نمبر يې وواهه، ورو يې وويل:

- کارما

له هغې خوا درونډ شرابي غږ راغی:

- څه دې خيال دی، چې همدا يې ورځ ده، که بيا هم کېدای شي؟

ده لاړې تېرې کړې، ورو يې وويل:

- هر وخت کېدای شي، که څه مسئله نه وي، نو ډيوټي اېز فرسټ (دنده لومړيتوب لري)
- خلک درغلل.

پته يې ورکړه، فون يې کېښود، زړه يې په درېېدو شو. ورغی د عليمردان تر خوا کېناست.
خلک کمېدل، تياري غالبېدې... تياري ښې وې، عليمردان فنا غوښته. پورته شؤل. دواړه يؤ عالم چورتونو وړي وو. لاره يې سيخه کړه، له کالجه ووتل، سړک ته برابر شول. له يوې څلور ټېره رېړۍ دودونه ختل، سپينکی هلک ورتاؤ شو، رېړۍ والا څو سيخان پر انګار کېښودل. ده وخت اړؤل غوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبه وروسته يؤ موټر ودرېد، څو کسان ترې راښکته شؤل، پهٔ سپينکي هلک يې تاوده غېږونه وکړل، عليمردان دهٔ ته وکتل، دهٔ پهٔ خوند وويل: (ملګري دي، هر خذمت ته برچېک ولاړ وي.)

هلکان رانژدې شؤل. کارما (سپينکي هلک) عليمردان معرفي کړ، هغوی ډېره مينه ورکړه. سپينکي هلک وويل: (کباب به وخورو، بيا به موږ هم تر خپلو ځايونو ورسوئ!)
د نورو سيخانو فرمايش يې ورکړ.
چيغې شوې، يؤ هلک پهٔ زينو کې راولوېد، خلک پرې ورټول شؤل، بل هغهٔ پهٔ چاقو وهلی و، سپينې جامې يې پهٔ وينو رنګ وې.
د خلکو ګڼه ګوڼه شوه. لهٔ لرې د پوليسو د موټر ارنډونه شؤل. د سپينکي هلک ملګريو وارخطا يؤ بل ته وکتل، دوی ته يې د مريض بهانه وکړه، موټر ته وختل، پهٔ بيړه وتښتېدل.
تيارهٔ مهال کوټې ته ورسېد. عليمردان د پاچا دوی اضافه ټېپ ور وړی و. زرين، شېرباز او شېرمامد ناست وو، ټيپ يې راډيو ته کړی و، بي بي سي يې نيولې وه، درنګ سات وروسته (نوی کور نوی ژوند) ډرامه شورو شوه.
عليمردان پهٔ کوټه کې و، نه! پهٔ کوټه کې نهٔ و هغهٔ عشق يو لافاني کېفيت مبتلا کړی و، هغهٔ سروبی ليد، هلته لرې پر کټ فرشته ناسته وه، نجونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې ورتولې وې.
ډرامه خلاصه شوه، ورږوکی ټېپ يې بنده کړ، زرين پورته شو، پر رېک يې کېښود. جاى نماز يې ور واخيست، نېت يې وتاړهٔ، شېرباز مخ ور واړاوهٔ:

- هلکه بې چورته يې.

عليمردان پر مخ عاديتوب خور کړ، ويې ويل:

- ښهٔ يم. فشار مې ښکته شوی و.

شېرمامد په گاز ډبې پسې اور واچاوهٔ، دېگی يې پرې کېښود، ووت، عليمردان ټېپ ته کتل...
زرين سلام وکړ، څلور گرمې ډوډۍ يې پر دسترخوان کېښودې. ډوډۍ وخوړل شوه، شکر يې وويست، دسترخوان يې ور ټول کړ.
شېرباز و زرين ووتل، کراچۍ يې لټوله، مېوه پلورونکي يې پوښتل..
شېرمامد، چاى تيار کړ، عليمردان و نهٔ څښنهٔ، معده يې اېشېده، داسې يې احساسوله، لکه پلاستيک چې گونځې شوی وي.
عليمردان پورته شو، ټېپ يې ور واخيست، ساکت يې پکې ورکړ، لهٔ جېبه يې پيټې ور وويستې، يوه يې ور واچوله، د سردار علي ټکر غږ پورته شو:
((چا ته عيد مبارک باد کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ته وګورم زړهٔ ښاد کړم؟
هغه یار اشنا مې نشته
چې پرې غم د یارۍ زباد کړم
بد نصیب لهٔ نژدې یاره
څرنګ لرې په هېواد کړم
هېڅ ټیکاو مې چېرته نهٔ شي
تهٔ وا غرهٔ ته اعتماد کړم))

د دروازې ګړب شو، شېرباز مسکی ولاړ و، علیمردان ټېپ ګل کړ، زرین واسکټ وویست، پر ځمکه یې خطا کړ، شېرباز پهٔ خوند وویل:

- یوه درې ټاپره کراچۍ مو پېدا کړه، یو نیم سل یې کرایه ده، تر اخیستو ښه تمامېږي، چې خرڅوې یې، دغومره خو تاوان هم کوي.

شېرمامد پهٔ خوند وویل:

- ضمانت به غواړي کهٔ څنګه؟

- مجبور، پاچا یې وکړي. علیمردان دې سبا ورشي.

علیمردان څنګ بدل کړ، پهٔ خوند یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سمه ده، سبا به ورشم.

شېرباز د زرین ملا ته ټپ ورکړ:

- اوس یې را ټولوه.

زرین وخندل، پورته شو، پر ګاز ډبه یې چاینکه کېښوده، لهٔ جېبه یې دوه پاکټه شیدې ور وویستې، اوبهٔ یې پکې ګډې کړې، تور چای او لپه بوره یې ور واچوله.
پاؤ باندې یوولس وې، زرین ډډه واچوله، ګلدوز څادر یې پر ځان ورکش کړ. شېرباز و شېرمامد هم ځایونو ته شول، علیمردان ځای ته ورو څښېد، زرین جګ شو، ګروپ یې ګل کړ، تیارهٔ شوه، تیارو پټؤل کؤل...
علیمردان خوشاله و، فرشتې ورته ویلي و(ټوله ستا یم!) پهٔ چورت کې لاړ، ویدهٔ شوی و.
سهار شو، ټول وتي وو، د علیمردان سر ته کیلي پرته وه، پورته شو، ځای یې ورټول کړ، بهر ووت، مخ ته یې اوبهٔ واچولې، کوټې ته ورغی، مخ یې وچ کړ، ایینه کې یې وکتل، عشق بدل کړی و، خو خوشالۍ هم پکې لارې کړې وې.
څپلیو ته یې ساپې ونیوله، پورته شو، دروازه یې ور کش کړه، کولپ یې ور واچاوهٔ، سات ته یې وکتل، نهه او شپږ دېرش دقیقې وې، پاچا کره

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان شو...

چورت یې واهۀ... پرونۍ عجیبه ورځ وه!! لۀ چا سره چې همه تن پاتې و، پۀ غېږ کې یې نیولی و.

له بازاره ورتېر شو، کوڅې ته برابر شو، شا ته یې وکتل، ننوت. د پاچا د کور دروازه بنده وه، و یې نۀ ټکوله، همداسې ودرېد، لږ مخکې یوه لرگینه دروازه ښکارېده، شنه پرده ورته زړېده.

د پښو ځښاری شو، دروازه یې وډبوله، ترور یې دروازه ور خلاصه کړه، ننوت، ښکل یې کړ.

رویا چای راوړ، بېگانی کتغ ورسره و، علیمردان مازې د ډوډۍ څوکه وروړه. ترور یې په ست وویل:

- همدلته به پاتې وی، څۀ حجره خو مو نۀ خوړه!

- پۀ خبر اوسې ترورې، خو د یوې ورځې خبره نۀ ده!

- کومه کوټه مو ونیوله، کۀ څنگه؟

- هو، هلکان نن لاړل، چې پۀ سُر او حساب باندې ځان پوه کړي.

- زه راغلم، کۀ پاچا یې د کراچیو ضمانت وکړي.

- ولې به یې و نۀ کړي، څۀ پۀ درد خوري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رویا پورته شوه، پیاله یې ور ډکوله، علیمردان پرې لاس کېښود، پورته سات ته یې وکتل.

رویا پورته شوه، بهر ووته، علیمردان وګڼله، چې فرشته راولي!!

د دروازې ګرب شو، نصرالله منډې وهلې، بکسه یې پر کټ خطا کړه، کوټې ته یې منډه کړه، بادیوه یې ور واخیسته، انګړ ته شو، خاوره یې پورته کړه، د هوا طرف یې مالوم کړ، بادیوې ته یې ټکان ورکړ، تار یې ورخوشې کاوهٔ، پهٔ شا روان و.

علیمردان و څښېد، د نصرالله بادیوې ته یې کتل، د کوټې لهٔ منځه دروازه ور مالومه شوه. دی پهٔ حال نهٔ و، دی پهٔ حال کې نهٔ و، دی پهٔ کومه بله زمانه کې و!

دروازه خلاصه شوه، پهٔ انګړ کې دوه نجونې ودرېدې، علیمردان تر سترګو لاندې ترور ته وکتل، هغې د سترجو ټټر ګنډهٔ، غټې چشمې یې اچولې وې. بدل غوندې احساس یې وکړ، زړهٔ یې وران شو، کانګې ورتلې، ترور ته یې د بهر ته تګ وویل، ووت، تر برنډې بښکته شو، فرشته د رویا شاته پټه شوه.

نصرالله ته ورغی، دواړو پورته کتل، رویا و فرشته پخلنځي ته ننوتې، دروازه یې خلاصه وه، فرشته ولاړه وه، لهٔ دواړو سترګې بې اختیاره کېدې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برنډې پر ژړې ترموز ایښی و، پر سر یې ګیلاس نسکور و، علیمردان چرخه کېښوده، ورغی، د ترور کوټې ته یې ور وکتل، هغه بوخته وه، ګیلاس یې کنګال کړ، ډک یې کړ، اوبه یې وڅښلې. پخلنځي ته یې وکتل، فرشتې نرۍ شګه ور واره کړه، دهٔ شاته وکتل، نصرالله پورته بادیوې ته کتل، بیرته ځیر شو، فرشتې وخندل، دی هم مسکی شو، رویا ځان نا خبره اچولی و.

نصرالله افففف!! کړل، ژر ژر یې تار تولاوهٔ، بادیوه یې ازاده شوې وه، خفه شو، علیمردان ورغی، ویې پوښت، هغه وویل:

- د خرې زوی کشوانی کاوهٔ، بادیوه مې یې ازاده کړه!

علیمردان جیب ته لاس کړ، پنځه ګون یې ورکړ، ویې ویل:

- زما هم درسره سات تېر دی، بله راوړه.

نصرالله ها خوا، دېخوا وکتل، انکار یې وکړ:

- نه، مور مې پهٔ قاریږي، تهٔ مېلمه یې.

- واخله لېونیه! بادیوه راوړه، چې وخت مې نهٔ تېرېږي. او ها! پهٔ دوکاندار یې تاربندي واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصرالله منډه کړه، پهٔ دروازه ووت، علیمردان د ترموز تر خوا کېناست، رویا را ووته، د مور کوټې ته ورغله، بېرته را ووته، د کلا دروازې ته ورغله، کونډه یې کړه. علیمردان فرشتې ته کتل، هغې د ورتګ اشاره ورته وکړه، دهٔ شاته وکتل، رویا پهٔ تنارهٔ بوخته وه. زړه یې رېږدېده، ورغی، هغې لاس ورکړ، دی غلی ودرېد.

هغې وویل:

- څنګه یې؟

- ښهٔ یم.

- ته څنګه یې؟

فرشتې اسویلی وکړ، ورو یې وویل:

- غرکه دې کړم، هره خوا او هر ځای را ته ښکارې، مړی مې نهٔ تېرېږي، خوب مې خراب شوی دی، پام مې بل چېرته وي، بېخي دې بل څوک کړم.

علیمردان بهر وکتل، ور وړاندې شو، پهٔ غیږ پورې یې ونیوله، ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زهٔ هم بل رقم شوی یم، نهٔ پوهېږم، چې څهٔ به کېږي!؟

دروازه وټکېده، علیمردان پهٔ بیړه ووت، نصرالله و. روپۍ واله پرپره یې اخیستې وه. څلور روپۍ یې علیمردان ته ونیوې، هغهٔ جېب ته واچولې.
نصرالله تار بندي وکړه، توله یې برابره کړه، بادیوه یې پورته کړه، علیمردان پخلنځي ته کتل، فرشته پهٔ علیمردان کې ورکه وه.
رویا غږ وکړ:

- ډوډۍ تیاره ده.

نصرالله وویل:

- اوووو... تهٔ اوس دې ته ګوره، خو وروسته به یې وخورو، اوس دې لهٔ کنچنۍ سره کېنه!

اه! د علیمردان زړهٔ پهٔ درببدا شو، سترګې یې واړولې، فرشته ولاړه وه. رویا دسترخوان ساپې کاوهٔ، رویا بیا غږ وکړ، نصرالله بادیوه ښکته کړه. دواړه کوټې ته ننوتل، د علیمردان زړهٔ نیولی و، پهٔ زوره یې څو مړۍ تېرې کړې. بهر یې کتل، ووت، چیلمچي ایښې وه، لوټه یې پورته کړه، نصرالله منډه کړه، څنګ ته یې ودرېد، لوټه یې ترې واخیسته، پر لاسونو یې اوبه ور واچولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټې ته ننوت، غلې کېناست. ترور يې د تورو بانجانو لکۍ د نصرالله مخې ته کېښوده، هغه خولې ته کړه، د مستو کاشوغه يې ور پورته کړه، ووت، لاسونه يې ومينځل، اشپزخانې ته ورغی، پتنوس ايښی و، وړه تږته ګوړه يې خولې ته کړه، کوټې ته ورغی.

فرشته پر بوجۍ ناسته وه، د فکر په بې پايانه سمندر لاهو وه. رويا ولاړه وه، لاسونه يې پر تشو ايښي و، د عليمردان د کور کيسې يې کولې.

عليمردان ووت، حجرې ته ورغی، د بهر خوا دروازه يې کولپ کړه.

نصرالله باديوه پورته کړه، عليمردان پهٔ چورت کې و، دی به تر کله داسې وي، د دې غم او الم څهٔ انجام شته، کهٔ داېره ده سر او اخر يې يؤ دی او يو شان تکرار به لري!؟

شپه وروسته کور ته ننوت، رويا يې لهٔ مور سره ناسته وه، تلويزيون لګېدلی و، عليمردان خفه شو، فرشته تللې وه.

رويا يې مور ته مخ کړ، ويې ويل:

- فرشته لاړه، مور يې غوښته، شايد مازيګر بيا راشي.

- ډوډۍ يې نهٔ خوړه؟

- نه، ويل يې مړه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان ښکته کتل، زړه یې بې واکه و. مازیگر ته منتظر شو...
حجرې ته ورغی، کوټې ته ووت، د فرشتې کور ته یې وکتل، لرګینه دروازه وه، شنه پرده ورته زړېده.
ننوت، سګرټ یې بل کړ، سندرې ته یې زړهٔ کېده، جرئت یې و نهٔ کړ، ټیپ یې ور و نهٔ غوښت. پرېښانی ورځ و.
د دروازې درب شو، نصرالله په زوره وویل: (علیمردانه! وه علیمردانه!)

څنګ یې بدل کړ، په چوغو سترګو یې وکتل، نصرالله و، لمانځه ته یې جګاوهٔ. پورته یې وکتل، دیوالي سات ته ځیر شو، په بیړه ووت، د تشناب بیلر یې وکوت، تر نیمایي ډک و، دروازه یې ور پورې کړه، پورته تاخچې ته یې وکتل، نیمه پاکټې شامپو پرته وه، ژر ژر یې پر ځان اوبهٔ تېرې کړې، بهر ووت، کور ته ورغی.
فرشته راغلې وه. اه! دا مازیگر!! دا د رنګ او نور مازیګر دا د رنګ او نور نجلۍ، دا د رنګ او نور کاېنات، دا د رنګ او نور اوازونه، دا د رنګ او نور لویه تماشه او دا د رنګ او نور ټوله کیسه!
له کوټې د ټکر د سندرې غږ خوت:

زما پهٔ ویښه د خوبونو لوی جهانه!
پهٔ شپه کې راشي، پهٔ ورځ بیا لاړ شې لهٔ ما نه
د ستورو باغ پیدا د خاورو د انسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپسته د ګلستانه، راځه ما له راځه!

د ايينې عکسه ولې بل خوا ته ورکېږې؟
سوره لوګيه اسمانونو کې خورېږې
د صحرا سينده چرته ځې کوم خوا غېبرږې؟
وچېږې - وچېږې، راځه ما له راځه!

د سيلۍ اسه، له اسمانه غورځول کوې
اول دارو شې، بيا د زړونو ماتول کوې
د يؤ کار نهٔ يې او پهٔ ما کارونه سل کوې
وژل کړې، وژل کړې، راځه ما له راځه!

عليمردان ور وکتل، فرشته پکې ډوبه وه، لافاني وه، غرکه وه، عذاب وه، خوند وه، سپوږمۍ وه، تورې خاورې وه!!

دهٔ مخ واړاوهٔ، ښار يې کاوهٔ. رويا پورته شوه، عليمردان ته وګوښېده، هغه پورته شو، کوټې ته ننوت. ترور يې ناسته وه، سور رنګی چای ورته ايښی و، هغې وپوښت:

- بې تابه غوندې يې، رنګ دې هم زيړ دی، ناجوړه خو به نهٔ يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليمردان ټکان وخوړ، سترګې يې ور واړولې:

- زهٔ خو همغه د فشار ناروغي لرم.

- مالګه ډېره خوره!

- سيروم را ته ډېره فايده کوي، هر اوړی څو دانې کوم.

عليمردان بهر وکتل، فرشتې ځان ور مخامخ کړی و، دهٔ ترور ته وکتل، هغې غټې سترګې اچولې وې، ټټر يې کاوهٔ.
بهر يې وکتل، اه! دا نجلۍ ولې پهٔ ما کې ده، زهٔ ولې نيمګړتيا محسوسوم، زهٔ ولې هيڅ نهٔ وينم، زهٔ ولې هر نظر د دې لهٔ ځانه کوم، زهٔ ولې د ځان لهٔ تماشې وېرېږم، زهٔ ولې نهٔ پايم او تر کومې!!؟
عشق دی، همه عشق دی، هر نظر، هر منظر، هره شېبه او هره ذره چغې وهي او د عشق لهٔ تاب او بې تابۍ پهٔ شور او فغان دي!
فرشتې پهٔ ټيکري اوښکې پاکې کړې، مخ يې واړاوهٔ، رويا ته يې څهٔ وويل، بهر ووته.
عليمردان غرق کېناست، فکر يې چېرته بېولی غوندې و، جګ شو، د حجرې پر لور ورغی، دروازه يې خلاصه کړه، ننوت، پړمخه پرېووت، پهٔ سونګهاري شو، ژړل يې...
ريکشه پهٔ تنګه کوڅه ننوته، رڼا يې ښکته- پورته کېده...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا ریکشه ودرؤله، د کور دروازې ته ورغی، ټېله یې کړه، ننوت، انګړ روښانه و، ځمکنی ډنډه یې پکی لېګدهٔ، مېرمن یې ور پورته شوه، سودا یې ترې واخیسته، اشپزخانې ته یې یوړه. کوټې ته ننوت، مور یې ستړي مشي ورکړه، دهٔ ځواب ورکړ، بالښت ته تکیه شو، پورته پکي ته یې وکتل، پکې ورته کرار وبرېښېد، پاڅېد، تېزه یې کړه، ټټی یې خلاصې کړې، تټر یې یخ شو.

مور یې لهٔ علیمردانه خبر کړ، یوه شېبه ناست و، پورته شو، حجرې ته ورغی. علیمردان تلویزیون ته ناست و، خو دغلته نهٔ و، بل ځای پاتې و. پاچا ور ننوت، غوږ او تازه سلام یې واچاوهٔ، علیمردان ور پورته شو، ستړي مهٔ شي وشوه، دهٔ ټول جریان ورته ووایهٔ، هغه ډاډ ورکړ، ضمانت به یې وکړي.

پاچا پورته شو، لهٔ ځانه سره یې بوت، کور کې یې ډوډۍ وخوړه، شېبه وروسته علیمردان اجازه وغوښته، دوی د چای ټینګار کاوهٔ، هغه بهانه وکړه، لهٔ ترور سره یې خدای پهٔ امانې وکړه، بهر ووتل. پاچا مخکې و، علیمردان ورپسې و، شاته یې وکتل، لرګینه دروازه وه، شنه پرده ورته زړېده.

پاچا تر دوکانونو بدرګه کړ، سره بېل شول، علیمردان زنګېدلې قدمونه اخیستل، سګرټ یې ولګاوهٔ، پهٔ زړهٔ یې فریاد او شور و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرک ته برابر شو، مړاوې- مړاوې قدمونه يې اخيستل. کوټې ته ورسېد، د ډرامې غږ خوت، ننوت، سلام يې واچاوهٔ، هغوی ځواب ورکړ، دی گوښه کېناست، ډرامې ته غوږ شو، خو نهٔ يې محسوسوله، ژوند پهٔ دهٔ ډرامې کړې وې!!

ډرامه خلاصه شوه، شېرباز وپوښت:

- موږ خو درې رېږی پېدا کړې، څنگه چل دې وکړ؟

- سهار ته پاچا راځي، د ټولو ضمانت به وکړي؟

زرين وويل:

- زهٔ لکه چې نامې دوپه يم، زما ضمانت ولې نهٔ کوي؟

ټولو وخندل، عليمردان وويل:

- ستا هم کوي، لهٔ ما سره چا وعده کړې ده، پهٔ کارخانو پيرانو مارکېټ کې مې لهٔ چا سره منشي کوي.

- تعليم خو دغلته گټلې وي، د قلم لهٔ رنگه دې پيسې تويږي او لهٔ خولې دې د جهان اثرناکې خبرې. ته يې پهٔ فکر او قلم گټه، زموږ پهٔ برخه دې نارې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو وخندل...شېرمامد پیاله وښوروله، غوړپ یې کړه، چاینک ته یې لاس کړ، علیمردان ته یې وویل:

- بوره درته واچوم؟

- نه!

شېرمامد وغځېد، پیاله یې د علیمردان مخې ته کېښوده، علیمردان پلتۍ ووهله، لهٔ پیالې یې غوړپ وکړ. شېبه وروسته ځایونه سم شول، ټول پرېوتل.
سهار لمانځهٔ مهال پاچا ورغی، دروازه یې ټک ټک کړه، زرین ور ووت، تود هرکلی یې ورته ووایهٔ، کوټې ته یې دننه کړ، ټول ور پاڅېدل، زرین چایجوشه پر گاز ډبه کېښوده، ووت. مجلس تود و، پکی ښهٔ لگېدهٔ.
دروازه خلاصه شوه، زرین ور ننوت، لهٔ اخباره تپ خوت، شپږ ډوډۍ پکې تاؤ وې.
دسترخوان یې خور کړ، ډوډۍ یې پرې کېښودې، پهٔ دوه قابونو کې جلبۍ ایښې وې، زرین جلوبۍ ور نیمه کړه، ډوډۍ کې یې تاو کړه، خوندور شخوند یې پرې وواههٔ.
شېرباز بحث راواچاوهٔ، پاچا یې پوه کړ، چې علیمردان ته منشي توب پېدا شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرد سره ووتل، علیمردان په کوټه کې پرېووت، دروازه یې ور پورې کړه، لهٔ رېک نه یې ټېپ ور واخیست، د فرشتې ورکړې پیته یې ور واچوله، د سردار علي ټکر غږ وخوت:

پهٔ لېمو کې مې مدام
عکس گرځي د گلفام
تورې سترگې مې گلگون شوې
پهٔ ارزو د گل اندام
بې د سترگو لهٔ خونابه
نهٔ باده لرم، نهٔ جام
پهٔ طلب د دل ارام کې
ما و نهٔ لیدو ارام
زنخدان یې خدای کوهی کړ
ور ښویږم پهٔ هر گام
کهٔ یې خال د مخ غلام دی
زهٔ غلام یم د غلام
کهٔ پهٔ عشق کې ناکام ډېر دي
دا ناکام دی، زما کام
خوښ یم، ستا پهٔ عاشقۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهٔ نیک نام یم، کهٔ بدنام
پهٔ یارۍ کې مې قبول دی
ملامت د خاص و عام
د دعا پهٔ عوض غواړم
د خپل یار د خولې دشنام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم څپرکی

زرین په خوند وویل:

- کار به کېږي، خو چې دا چکر به کله وهو؟

شېرباز شېرمامد ته وکتل، هغهٔ په ټوکه وویل:

- خوښه مو! خو پهٔ سروبي کې درته کړې د پارک او ښځو کیسې ټولې گپ وې!!

ټولو پهٔ کړس وخندل... علیمردان موسکی و، زرین وویل:

- ځئ، چې مالوم یې کړو، سبا ورځ شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېرمامد پهٔ خوند وويل:

- بېخي دې ښه خبره وکړه.

ځایونه سم شول، زرین پورته شو، بټنې ته یې لاس ور اوږد کړ، تیارهٔ شوه. علیمردان اړخ پهٔ اړخ اوښت...
شین ملا اذان پورته شول، علیمردان مشوره ورکړه، دا وخت د چکر او باغ ناران نهٔ دی.
زرین په چرگ پسې ووت، دوی ټاپ چالان کړی و، پهٔ خیالونو کې پراتهٔ وو. غرمه شوه، مازیگری شو، دوی درې سره روان شول، علیمردان پاتې شو. شېرباز اندېښنه وکړه، ویې ویل:

- علیمردان خالي لاس روان دی!!

زرین پهٔ ټوکه د ((صد ټک زرگر...)) متل ووایهٔ، شېرمامد وویل:

- چې پهٔ منشیتوب ولگېد، زموږ د درېو میاشتو، پهٔ میاشت کې گټې.

- منم، خو چې کار یې وشي، سبا به تش جېب روان وي، شرم دی!

- نه، بلا سړی دی، څهٔ درک به یې کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لۀ ډبې ښکته شول، باغ ناران ته ور تاؤ شول، ټکټونه يې پرې کړل، ننوتل.
ټولو لوڅ متې ښځې سی کولې، داسې يې ورکتل، تهٔ وا ښکار کوي.
عليمردان پهٔ تنگه کوڅه ورننوت، دروازه يې وټکؤله، نصرالله ور ووت،
دی ننوت، پهٔ حجره کې يې واړول، بس يوه مشغولا يې وه، فرشته!
وخت يې تېراوهٔ، خو نهٔ تېرېدهٔ. بهر ووت، وړاندې يې وکتل، لرگينه
دروازه وه، شنه پرده ورته ځړېده. سگرټ يې څښاوهٔ، پرده پورته شوه،
فرشته وه، ځای پر ځای مېخ شو، نصرالله ور ووت، عليمردان ټنګی شو،
حيا يې وکړه، حجرې ته ننوت.
زړهٔ يې بيا- بيا غوښتله، پورته شو، سگرټ دانی يې کوڅې ته ور وشېندله،
څوک نهٔ وو، ننوت، اوږد وغزېد، سگرټ يې ولگاوهٔ، تيرانو ته يې کتل.
رويا رېباري کړې وه، د شپې ديدن ته وخت پاتې و.
پاچا ورننوت، دننه لاړل، ډوډی وخوړل شوه، حجرې ته ورغی، تلويزيون
ته ناست و، وخت لکه عذاب و، نهٔ تېرېدهٔ.
ټيپ يې چالان کړ، غوږ غوږ و، رېږدېده، سترگې يې لندې وې. دېوالي
سات ته يې وکتل، دولس وې، بهر ووت، لهٔ حجرې کور ته وتې دروازې
ته ورغی، يوه سوري ته يې سترگه برابره کړه، انگړ پهٔ سپوږمی رڼا و،
خلک پر کټونو پراته و، د ځمکني پکي بژس خوت.
شاته يې وکتل، پورته بامونو ته ځير شو، ورو گامونه يې واخيستل، دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې خلاصه کړه، کوڅې ته ووت، ښکته يې وکتل، تيارۀ وه، د فرشتې کور ته ځير شو، زړۀ يې دربېدۀ، د کوڅو بر سر ته ورغی، کوڅې او بامونه يې وڅارل، بېرته تنګې کوڅې ته دننه شو. مخکې لاړ، د حجرې دروازه يې ورو خلاصه کړه، ننوت، پر کټ وغزېد.

پرله پسې سګرټ يې واهۀ...

لاسي بجلۍ يې رڼا کړه، لۀ يوې ديارلس تېرې وې. اوږده ساه يې واخيسته، پر جېب يې لاس وتپاوۀ، اورلګيد وشرنګېد، سګرټ يې ور وويست، بل يې کړ، سترګې يې ترخې شوې. خوند يې ور نۀ کړ، پر دېواله يې چيت کړ. د کور خوا دروازې ته ورغی، يوۀ ترک ته يې سترګه برابره کړه، څۀ يې بدل و نۀ ليدل، د کلا د دروازې پر لور ورغی، ورو يې خلاصه کړه، د زړۀ دربېدا يې زياته شوه. بېرته تاؤ شو ښه شاته شو، پورته بامونه يې وڅارل، زړۀ يې پۀ زوره- زوره دربېده، دروازه يې خلاصه کړه، د باندې ووت، لږ ښکته دروازه ښکارېده، پرده ورته پرته وه. پښې پسې درندې وې، درانده قدمونه يې واخيستل، تر دروازې ورسېد، هملته مېخ شو.

دروازه خلاصه شوه، خوشبويي يې حس کړه، ور وړاندې شو، فرشتې پرده پورته کړه، فرشته يې داسې حس کړه، لکه حواس چې د عقل او عقل د حواسو پۀ ذات کې ګډ شوي وي، داسې يې حس کړه، لکه انسان چې تر بارانۀ لاندې ولاړ وي، داسې يې حس کړه، لکه فکر چې تر يقين پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شک نۀ مني او داسې يې حس کړه، چې هېڅ کله يې نۀ وه حس کړې، ور وړاندې شو، هغې ورو وويل:

- راغلی يې؟

- هو.

لاس يې ورکړ. عليمردان وروړاندې شو، دواړه تر شنې پردې لاندې پټ وو. د هغې لاسونه يې امېل کړل، خپلې غاړې ته يې واچول، هغې يې پر سينه سر کېښود، خپل ځان ته څۀ بدله- بدله محسوسوېدله...
عليمردان ځان ته ورکش کړه، هغې سر ټيټ اچولی و، دواړو لۀ يو بله تاؤ کړي لاسونه ډېر ژور حس کړل، لکه ښامار چې لۀ خزانو تاو شوی وي.
اه! د زمانې دا منظر دې همداسې پاتې شي، لکه عکس، داسې دې پاتې شي، لکه په تصوير کې ولاړه ګړۍ، داسې دې پاتې شي، لکه ابد، داسې دې پاتې شي، لکه لافاني بادونه، داسې دې پاتې شي، لکه عشق چې پاتې دی او پايي...
سره ورک وو، بايد پۀ زمانې او د ټولې نړۍ پر ګړيو او ساتونو افت نازل شوی وای!!
لۀ ځانه يې بېله کړه، د هغې لاسونه مړۀ خطا شول، ور وړاندې شو، تر ويښتو يې ونيوله، هغې سر ټيټ اچولی و، دۀ يې مخ ورپورته کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليمردان شاته وکتل، کوڅهٔ يې وڅارله، بېرته ور وړاندې شو، فرشتې ښکته کتل.

عليمردان وويل:

- شپه مې ځکه وټاکله، چې وخت کم دی، بل د زړهٔ خبرې مې رښايي نهٔ راباسي، شايد تيارې مناسبې دي. خو زهٔ خوشاله يم، مور مې رالېږم، شايد خپله يې راولم.

فرشته غلې وه. عليمردان ورو وويل:

- بې لهٔ تا مې نهٔ کېږي.

فرشتې په اعتراض وويل:

- زما خو داسې کېږي!!!

- خدای دې اساني را ولي.

غاړه غړۍ شول، بې خبره وو، بې رنګه او بې نوره وو. فرشتې رخصت واخيست، عليمردان پر زړهٔ پورې ټينګه ونيوله، شېبه وروسته يې لاس ورکړ، فرشته کور ته ننوته. بره پهٔ بام باندې د يوهٔ سر سياهي ښکارېده، لاندې يې کتل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیمردان حجرې ته ورغی، کوټې ته ننوت، اوږد وغځېد، ډوبه ساه یې
واخیسته، بهر ووت، سګرټ یې بل کړ، ساه یې لنډه لنډه کېده، یوه شېبه
ولاړ و، ننوت، پرېووت، بالښت یې په غېږ کې ونیو، خوب ورغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم څپرکی

لمر سوزؤل کول، اړخ يې بدل کړ، سترګې يې وسولوې، ووت، تشناب ته ننوت، بړيزه يې لړه غټه شوې وه. ويې لامبل، ننوت، رويا چای تيار کړ، د نور کله په نسبت يې ډېر ورکتل...

لۀ تنګې کوڅې ووت، سپينکی هلک د دوکان تر څنګ ولاړ و. عليمردان زنګېدلی روان و، فکر وړی و، دا دنيا همداسې ښه وه!؟ هو! همداسې ښه ده!

کوټې ته ورغی، ملګريو يې سودا اخيسته، د تګ ورځ يې ځنډؤلې وه. مازيګر و، شمال لګېدۀ، سپينکی هلک د دوکانونو تر مخ ناست و، عليمردان تېر شو، سلام يې وکړ، سپينکي هلک ځان پټ کړ.

عليمردان د ترور لۀ کوره بيا خداي پۀ اماني وکړه، نصرالله يې پۀ تګ خفه و. ووت، د دوکان تر مخ تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپینکی هلک بېرته روان شو، تر دوکان تېر شو، د لوی کوڅې سر کې ودرېد، لاس یې پر تندي چترۍ کړ، روان شو، جومات ته ورغی، د اوداسهٔ پر صوفه ولاړ و، بهر یې کتل....
علیمردان ورنژدې شو، سپینکی هلک وروو‌ت، دواړه ګرمه ستړي مهٔ شي وکړه. هلک شله و، پهٔ دهٔ ښهٔ لګېدهٔ... د هلک تورو سترګو خوند ورکاوهٔ، فرشتې ته شوې وې. ورسره ویې منله، د اسلامیه کالج پر طرف روان شؤل.
سپینکي هلک ور واضحه کړه، چې ملګري یې راځي، یؤ ځای به چېرته هوټل ته ځي او بیا به علیمردان تر کوټې رسوي. دواړه روان شؤل، شمال ښهٔ لګېدهٔ...
د کالج پهٔ چمن کې منتظر شؤل. سپینکی هلک روان شو، د دوکان تر څنګ پې، سي، او، ته ننوت، غوږۍ یې پورته کړه، خبرې یې وکړې، پهٔ بیړه ووت.
د څنګ لهٔ دوکانه یې دوه بوتله فانتا وروا‌خیسته، د علیمردان خوا ته ورغی، کېناست، فانتا یې څښله... سپینکي هلک خالي بوتلونه ورووړل.
یوه سپین چیاسي موټر ودرېد، دوه تنؤر هلکان ترې راکوز شؤل. سپینکی هلک ورپورته شو، هغوی ورغلل، لهٔ علیمردان سره یې ګرمه ستړي مهٔ شي وکړه، څلور سره موټر ته وروختل. موټر روان شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپینکي هلک علیمردان معرفي کړ، هغوی یې ښهٔ هرکلی وکړ، موټر روان و، رڼاګانو منډې وهلې...

موټر ودرېد، ارنډ یې وکړ، دروازه خلاصه شوه، یؤه پاخهٔ سړي ټوپک اوږې ته اچولی و. سپینکي هلک موټر ته ناست سړي ته اشاره وکړه، علیمردان ته یې وویل: (دا د دوی دفتر دی، لږه شېبه یو، بیا وځو.)

علیمردان مسکی شو، سر یې وښوراوهٔ. دوی ټول یې دویم منزل ته وروبلل.

سپینکی هلک تشناب ته ورغی، شېبه وروسته راووت، یؤ لاس یې شاته نیولی و. علیمردان پر چوکۍ ناست و. د کارما(سپینکي هلک) له ملګریو سره یې کیسې کؤلې.

سپینکی هلک د څوکۍ شاته ورتاؤ شو، ځان یې برابر کړ، یؤ دم یې حمله کړه، د علیمردان پر خولهٔ یې دسمال کېښود، هغه شټکه وخوړه، دهٔ یې پر خولهٔ لاس کلک نیولی و، علیمردان بې هوښه شو، چپې خوا ته ړنګ شو.

څو سپین چپني خلک پهٔ بیړه ورننوتل، علیمردان یې پر دستګیره واچاوهٔ، عملیات خونې ته یې ورننویست.

شېبه وروسته خلک راووتل، چپنې یې لرې کړې، سپینکي هلک ته یې سر وښوراوهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپینکی هلک کاروباري وو، هغهٔ د یوهٔ انسان د گردو دوه نیم- درې لکه کالداري اخیستې. پهٔ دریو کلونو کې یې پنځلس کسان خرڅ کړي وو، دا ټول هغوی وو، چې شک یې نهٔ پېدا کاوهٔ.
موټر یې وویست، راغلي څلور کسه هماغه څلور وو، خو درې پهٔ سیټ کې او څلورم د علیمردان جسد و، چې پهٔ ډاله کې په رابرټېپ کلک شوي پلاستیک کې تاؤ پروت و.
پر گډو- وډو لارو لاړل. نیم سات وروسته موټر ودرېد، دوه تنه ترې ښکته شول، ډاله یې پورته کړه، پهٔ پلاستیک کې تاؤ جسد یې پر ډېران خطا کړ.
دواړه موټر ته وختل، موټر پهٔ ډېره بیړه حرکت وکړ...
پاخه سرک ته ووتل، ټولو د ارام ساه واخیسته، خو د زړهٔ پهٔ تاه خانو کې یې نا ارامي محسوسؤله.
ریکشه پهٔ یوه کوڅه ورتاؤ شوه. گنه گوڼه وه، د پولیسو موټر ولاړ و، رنگه گروپونه یې پرکېدل او گل کېدل.
پاچا سورلۍ ته وویل:

- څهٔ پېښه شوې، لاره یې بنده کړې، خو خېر زنانه یاست، ورو ورو به ځو، خلک لاره راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریکشه روانه شوه، خلک اړخ ته کېدل، لږ وړاندې ګڼه ګوڼه ډېره وه، پاچا د خبریت پوښتنه وکړه، یوهٔ وویل:

- لهٔ یوهٔ ښایسته ځوانه یې ګردې ویستې دي، هېڅوک یې نهٔ پېژني.

پاچا ریکشه مخکې کړه، ښکته شو، مړي ته ورتاؤ شو، څو کسه پرې ورټول وو، پاچا د یوهٔ اوږه شاته کړه، سر یې برابر کړ. افففف.....

دا خو علیمردان دی، سر پرې وګرځېد، کېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوارلسم څپرکی

رویا او مور یې سر او تندی واهۀ، نصرالله پر ځمکه- ځمکه لګېد، پاچا د باندې ووت، ډله خلک ورغلي وو. د فرشتې دوی دروازه خلاصه شوه، یوه ډله ښځې ورغلې، ټولو بغارې وهلې. فرشته ربړدېدله، د دوو ښځو پر اوږو یې لاسونه کېښودل، چوله کې یې وکتل، اه! علیمردان مړ پروت و. فرشته بې واره شوه.

...حتی غم او الم خپله هم فریاد کاوۀ، بې دریغه ژړاګانې وې، یوه ډله سړي ور ننوتل، کټ یې پورته کړ، حجرې ته یې یوړ.

درې ساته ووتل، فلاینکوچ موټر ودرېد، کټ ته اوږې ور وغورځېدې، زرین او شېرباز لۀ مړي سره وختل، موټر چالان شو، حرکت یې وکړ، پۀ دوړو کې پناه شو.

دویمه وه، یوې نجلۍ لکه لېونۍ هره خوا کتل، بهر به ووتله، تر دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باندې به يې وکتل، بېرته به ننوته، اسويلی به يې وکړ، پر مټ به يې خولۀ ولګوله، ړنګه به شوه، بې هوښه به پرېوته.
رويا بوغبندونه تړل، نصرالله خفه ناست و، دېوال ته يې ولې لګولي و، مور يې نفلونه کول. پر مخ يې اوښکې روانې وې.

سوې او تېرې چيغې شوې، يوې ښځې چيغه کړه: (وه خداياااا فرشته!!!)

رويا او مور يې په بيړه ووتې، دروازه خلاصه وه، د سپينکي هلک کور ته ورغلې، انګړ سوو چيغو پۀ سر اخيستی و، ټولو کوټې ته منډې وهلې.
رويا کړکۍ ته ودرېده، ځړېدلې پښې يې وليدې. پۀ بيړه کوټې ته ننوته، تر پکې را ځوړند جسد شخ و. سپينکی هلک پۀ منډه ورغی، چيغه يې کړه، مزي ته يې چاړۀ ور واچوله، درب شو، جسد پر ځمکه وغورځېد. د فرشتې مور ړنګه شوه، پرېوته، خولې يې زګونه وکړل...
سپينکي هلک تر هسپتاله ورسؤله، خو لۀ هغې خوا يې مړی راووړ. دوه غبرګ مړي د انګړ پۀ منځ کې ايښي وو.
پاچا اورېدلي وو، چې د ګردو کاروباريان لۀ وخته پيدا شوي دي، خو زړۀ ته يې نۀ پرېوته. غم چې پۀ بل راځي، سړی يې نۀ محسوسوي، فکر کوي، چې دی هر چېرته پۀ ښۀ نا ښۀ طريقه بچ دی.
نصرالله يې سترګو ته ودرېد، پلاستيک کې تاؤ به پر ډېران پروت و، زړۀ به يې ورېږدېدۀ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم څپرکی

پاچا په لوړ غږ چغې وهلې:

- راځه! راځه! راځه! بسسسس...

لارۍ ودرېده، پاچا او شېرمامد ترې ښکته شول، ننوتل، بوغبندونه يې پر شا کول، ډرايور په لارۍ کې سمول.
رويا کړکۍ ته ولاړه وه، د لاچي ونې ته يې کتل، مړې اوښکې يې پر مخ روانې وې.
غنمرنگی مازيگر و، لکه ټول کاېنات چې د عليمردان او فرشتې په وينو رنگ وي. رويا کتاب خلاص کړ، د عليمردان عکسونه يې ښکل کړل، گل روپۍ له برنډې ښکته شوه، قران شريفونه يې رويا ته ونيول، هغې مچو کړل، دواړه بهر ووتې، پر گاونډيانو وگرځېدې...
د سپنکي هلک کور ته ورغلل، دعاپړ وروان وو. د فرشتې ورېندار رويا ته مخ کړ، چيغه يې کړه:

- هغه خو ستا فرشته وه!!

ژړاوې تازه شوې... نصرالله په بيړه ور ننوت، په لوړ غږ يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لالا مې وايي ژر راځئ!

رویا ژړل، د مور فشار یې لوړ شوی و، سترګو ته یې سپرغۍ بادېدې، د فرشتې دوی کور سپېرۀ مالومېده، ژوند پکې نۀ محسوسېدۀ.
رویا او مور یې د فرشتې لۀ کورنۍ غاړه غړۍ شول، ژړا او انګولا شوه...
رویا او مور یې را ووتلې، پۀ دروازه کې یوې ښځې غږ وکړ، نصرالله ورغی پۀ غېږ کې یې ونیوۀ، پر سر یې مچو کړ.
رویا حجاب سم کړ، ژړل یې... زړۀ یې کاواکه و،، قدمونه یې رېږدېدل، پۀ نۀ زړۀ روانې شوې، د کوڅې سر ته ورسېدې، رویا شاته وکتل، لرګینه دروازه وه، شنه پرده ورته ځړېده.

**پای**

کابل

شپاړسم نومبر، دوه زره او یو ویشتم

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**